## د کتاب ځانګړنې:

- ❖ کتاب نوم :: **د ډېوې رڼا ته** (شاعري)
- ❖ ويناوال :: محمد نادر دانش
- ❖ اړيکې :: ۰۷۰۷۸۰۹۵۰۱
- ❖ برېښناليک :: nadir.danish@gmail.com

- ❖ خپرندوی :: **يار خپرندويه ټولنه**
- ❖ ننګرهار_ افغانستان
- ❖ ۰۷۷۳۹۳۴۴۵۹
- ❖ yar_pub@yahoo.com

- ❖ کمپوز :: ويناوال
- ❖ پښتۍ او ډيزاين :: رحمن الله بهير

- ❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰(يو زر)
- ❖ چاپ وار :: لومړی
- ❖ چاپ کال :: ۱۳۹۱المريز
- ❖ خپرنيز لړ :: ۴ (څلور)

**ترلاسه کولو ځای:** يار کتابپلورنځی، اسحاقزي مارکيټ
لاندېنی پوړ جلال اباد ۰۷۷۳۵۳۴۷۰۳



**چاپ حقوق يې له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي.**


رڼا ته

لومړۍ شعري ټولګه

محمد نادر دانش

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

**هغو ته؛ چې تر پښو لاندې يې جنت دی.**

**هغو ته؛ چې زه يې د انساني ژوند په اصولو وپوهولم.**

**خپلې خوږې مور او د قدر وړ پلار ته مې!!**

دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرندويې ټولنې يادښت

د پښتو کتابونو د چاپ او خپرېدا لپاره ګڼ شمېر خپرندويه ټولنې شتون لري او هره مياشت په لسګونو کتابونه چاپ او خپرېږي؛ خو په دې ګڼ شمېر کتابونو کې بيا هم د شاعرۍ کتابونه خپل د پاموړ ځای نه لري. لاملونه به نور هم لري؛ خو يو لامل يې د خپرندويو ټولنو لپاره د خرڅلاو مسئله هم کېدای شي، چې اوسمهال پر هر ډول شعري ټولګې باندې څوک پيسې نه ورکوي.

خو زموږ په ځوانو شاعرانو کې ځينې شاعران داسې دي چې که د خپل زړه د درد خبره هم کوي؛ نو په نوي انداز يې کوي او داسې يې کوي چې خپل لوستونکي ته په کې يو پيغام ورکړي. د دې ډول شاعرانو شعرونه ډېر مينه وال لري او خلک يې د کتاب په پېرېدلو نه پښېمانه کېږي. په دې ځوانو او نوښتګرو شاعرانو کې يو ياد نوم هم محمد نادر دانش دی. ښاغلی دانش له ډېر پخوا راهيسې په دمه دمه شاعري کوي؛ خو ښه يې کوي.

يار خپرندويه ټولنه د ښاغلي دانش لومړۍ شعري ټولګه (د ډېوې رڼا ته) په دې يار خپروي چې په لوی ننګرهار کې يې پر شاعرۍ خوره مرموزه خاموشي ماته کړې اوسي. يار خپرندويه ټولنې تر دې دمخه هم يو شمېر کتابونه خپاره کړي دي او ژمنه ده چې له خپل توان سره سم به د خپلو درنو ليکوالو او شاعرانو غوره کتابونه تاسې ته وړاندې کوي. راځئ چې اوس د ښاغلي دانش (د ډېوې رڼا ته) کېنو.

## درنښت

## يار خپرندويه ټولنه_جلالکوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو شيبې د ډيوې له يوه اور اور کې سره

نوميالی عارف شاعر ارواښاد طاهر ((کلاچوي)) وايي:

د ډيوې په اور کې حسن وي طاهره!
ګڼې هسې اور نه تښتي پروانه هم

خبره د ښکلا او د حساس طبيعت ده او دا يوائې د شاعر په برخه رسېدلې ده. ستر عالم مولنا ابوالکلام ازاد رح وايي، چې د انسان تصور له قهريه صفاتو څکه پيل شويدی چې د کايناتو فطرت د تعمير او تخريب په پرده پټ دی. د ودانۍ د ښکلا ليدلو له پاره د پوهې او بصيرت يو لرې ليدونکی نظر مطلوب دی؛ خو څرنګه چې بشري فکر لا ماشوم دی، نو سترګو يې تر اوسه دغسې ځواک نه دی پيدا کړی. په دنيا کې د هر شي غونډې د هر فعل څرنګوالی خپل طرز او مزاج لري، وداني (تعمير) يو داسې حالت دی چې تګلاره يې سر تاسري سکون او چوپتيا ده، خو تخريب داسې پيښه ده، چې يون يې يو بشپړ ښورښ، وېره او وراني ده. د تعمير ايجاد نظم، جمع و ترتيب دی، خو د تخريب سلب، ګډوډي او اختلال وي.





د يوې مانې د جوړېدا پر وخت کوم شور نه محسوسيږي، خو غورځېدل يې د يوې چاودنې او انفجار په ډول وي، د دې حالت فطري پايله دا وي، چې حيواني طبعيت له سلبي کړنو سمدستي اغېزمن کيږي، خو ښکلا يو ځل په مشاهده کې نه راځي او وخت غواړي. دا خو د ښکلا فلسفې ته ورته شاعرانه څېړنه وه، خو صوفيان بيا تر دې وړاندې تللي، هغوی دغه بلوغ هغه وخت بشپړ ګڼي چې د ملک افراد ملکوت او د ملکوت هغه جبروت ته ورسي.

په هر صورت موخه مو دا وه چې ښکلا پېژندنه يوه زړه چاودون ته اړتيا لري او شعر چې له ښکلا جوړ دی، يو ځل خپل ادراک ته راوستل او پرې سمدستي پرېکړه کول به له فن او هنر سره جفا وي.

ښاغلی دانش د ځوانو شاعرانو تر منځه هغه ويناوال دی چې د ښکلا له ډيوې يې ډېر طوافونه کړي او بيا يې چې خپلې مشاهدې ته راوستې، نو يو ښکلی او له روايت سره سم اظهار يې ورکړيدی.

له روايت نه مطلب هغه پېښتني تهذيب دی، چې د اسلام له مقدس دين سره دومره ګډ شوی، چې اوس يې هر شيطان په بېلښت کې پاتې راغلی دی او که د فن خبره هم وي، خو خپل ارزښتونه له لاسه نه شي ورکولی:

لرې کړه جامونه ساقي زهر دې شي نه يې څښم
ما په محبت کې د ايمان لاره نيولې ده

ښکلا په مشاهده کې راوستل اسانه خبره او د هر چا د وس نه پوره نه ده. ماشومان هم پدې تکل وي، چې د لمر وړانګې راونيسي. زمونږ کلاسيک شاعر دغې ناممکن ((ممکن)) ته داسې نغوته کړې، چې:

د هلک په دود په لاس کې قمر نيسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ښاغلی دانش د ښکلا په تجلیَ نه بسیا کېږي، یو څه وړاندې ځي، عمق او تل ته ورښکته کېدل غواړي. ترکومه چې د شعر خبره ده، ورسېدلی ښکاري، خو دغې فاصلې ته لا ډېر تقرب د عرفان ښېپې او وزرونه غواړي:

تاسو به ملګرو له سپرلي نه دګل تمه کړئ
زه د ګل د شونډو د پرهار زړه پسې ګرځمه

یو کلتور او ثقافت هغه وخت مري، چې ژبه ومري؛ خو د ژبې مړینه سمدستي او یو ناڅاپه نه وي، په ژبه کې ملي ارزښتونه له منځه وړل د هر کولتوري یرغل ستراتیژیکه موخه وي؛ خو د ځوانانو شاعرانو تر منځ ښاغلی دانش لکه چې په شعوري ډول دې ازمېښت ته پام اړولی، که په شعر کې یې د مینې او جمال یادښت هم وي، خپل اسلامي او ملي انفرادیت نه فنا کوي، هغه چې «حیا» او «جنډه» څه ډول سندریزه کوي د اورېدلو دي:

نور که مې هېڅ هم پدې رنګ کلي کې ونه موندل
مینـــه بـــه در ولېـــږم حـیـا بـه درتـــه ولېـږم
کله چـې راځــې نــو زما قـبر ته جـنـــډه راوړه
ګرانــې! د دانـــش دا تـمـنـا بـــه درتـه ولېـږم

د جسماني ژوند عشق تش د تاثراتو هیجان وي، په حقیقي عشق کې تاثرات، حکمت او د حقیقت احساس یو ځای وي. د فکرو تصور په وړاندې مادي هستي یا زماني و مکاني وجود محدود او تنګ دی. محسوسات بیا د معقولاتو په وړاندې یو زندان دی. شاعر د لا متناهي جمال د یوې ډېرې محدودې برخې ادارک کولی شي. ځرنګه





چې کاینات د تجلیاتو د ظهور محل دی؛ نو څه چې د ښاغلي دانش د مشاهدې په ګرفت کې راځي. هغه د ښکلا انځور ګڼلی شو:

ماتـه یـاده شـوه د چـا د بارخـــو اوښکه
پــر ګلـپاڼـــه دا شبنـم لکه جانـــان دی

د اسلامي ختیځ د شاعرۍ عرفاني اصطلاحاتو خو په لویدیځ کې د سمبولېزم په نامه ادبي ښوونځی رامنځته کړ او دا هماغه استعاره او تشبیه ده، چې الماني فیلسوف «هګل» یې د ختیزې شاعرۍ بوتان ګڼي؛ خو چې شعر له دې پرته نه ښایسته کېږي، نو ښاغلی دانش هم د انګور استعاره د شرابو له پاره راوړي او بیا چې یې ناروا بولي، نو په ورستوالي یې غندي، او پدې توګه یو ښکلی مذهبي او ملي روایت انځوروي:

د وطن عشقه نشې ته دې حیران یم
چې څو چنده له وراسته انګوره ښه ده

د دانش د همدې غزل یو بل بیت لوستونکي ته یو نومیال سلف ارواښاد «خادم» یادوي :

قلم ښه دی کتاب ښه دی په لاسو کې
خو تر دې هم کله کله توره ښه ده

پر هېواد سر ورکول خو د هر پښتون مسلمان میراث دی، دانش هم د غزا لېوال دی، خو د حمزه رح بابا غوندې جنت له هم د پښتو سره ځي او پدې شرط چې شهادت مني، خو دا نه مني چې ګنې حوره د ده له محبوبې ښخه ښکلې ده او همدا یې انفرادیت او تشخص دی:

د هېواد مینه مې وروليي غزا ته
خوږه یاره تر تا کله حوره ښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګران دانش په شعر کې به د ګوتې اېښودلو ځای هم وي، خو زه د حیواني دماغ غوندې ځان د سلبي صفاتو نه اغېزمن کوم او د ده په یو ښکلي شعر درنه ځان ژغورم:

هغه سپوږمۍ ده چې تر ما راځي نو شپه سبا وي
زه لکـه لمر، فرصت د یو بل د لیـــــدو نه لــــرو

**په شاعرانه ولولو**
**ناګار**
**پوهنتون مېنه**
**۲۳/۸/۱۳۹۰**





**زړه مې زخمي دی دا چې نه ژاړمه**
**دا خو غرور زما په سترګو کې دی**

شعر د هغو غږونو د اهنګن تناسب ټولګه ده چې له امتزاجه يې موسيقي رامنځته کېږي. د شعر ژبه پر هغو غږونو روېږدې ده چې له تکرار او تناسب نه يې موسيقي رامنځته کېږي دغه موسيقي وال غږونه پر خپلې خوږلنۍ د زړه له حرکت سره جوخت په سر او تال او لی کې له خولې داسې راوځي چې د اورېدونکي غوږونه خپلو اورېدو ته هڅوي او پر زړه يې سمدستي اغېز ښندي. دغه اغېز د زړه رګونه په ترنګولو راولي. د انسان په وجود کې يو پټ شور او حرکت راولي. دا شور او حرکت د ذهن پردو ته ځان رسوي. ذهن غښتلی کېږي او فکري کچه لا وده مومي. نو د شاعرانو خبرې بې اغېزې نه وي، بدرنګې نه وي او بې مانا نه وي. د زړه له حرکت سره سم داسې له خولې راوځي چې د بل زړه رګونه په خپلې ښکلا او اهنګينو غږونو په ترنګولو راولي. هغه انګوال غږونه چې اوډون او ښه يې يو داسې پټ شور او حرکت لېږدوي چې د زړه د رګونو په ترنګولو سره سره د ذهن پر پرده سيوری پرېباسي، دغه شاعري د ملت د وېښولو او لوري ورکولو په برخه کې تر بلې هرې لارې او ځواکه د ټولنې د غښتلتيا او پرمختګ لپاره اغېزمنه تمامېږي. پايله داسې اخلو چې شعر د کلاسيکوالي پر بنسټ د خوند او ژوند نوم دی. د خبرو هنر دی. د ده خواږه ارمان ارزښت لکه په ايرو کې ورک سره زر دي چې شعلې يې ځان ځلوي.

د شعر په نوم ډېرې داسې منظومې ټولګې خپرې شوي دي چې زموږ کره کتونکي يې دغه مطلق حکم ته اړ کړي چې: شعر زيات شوی، تښر ته بايد پام وشي. دوی هره منظومه وينا شعر ګڼلې؛ خو هره منظومه وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر نه ده او نه د شعر غېږ یا چوکاټ یوازې نظم ګڼلی شو. شاعري د نظم او نثر په دواړو غېږو کې ډېره تته برېښي. موږ د اوسني نظم او نثر په غېږ کې دګوتو په شمېر داسې ټولګې پیدا کولای شو چې هغه د شعر په ګاڼه ښکلې وي یا شعري تومنه ولري. شعر د چا نسخه او فرمایش نه مني. ځان ته په خپله یو چوکاټ پیدا کوي.

زموږ په پښتو اوسنۍ شاعرۍ کې ایله ساه پیدا شوې. موږ باید د شاعر ذهن محدود نه کړو. پرې یږدو چې شاعرانه وینا راواوروي. د ارواښاد استاد عبدالرحیم الهام په وینا شاعر اېلتې نه وایي. شاعر خوشال وي، شاعر حمید وي، شاعر حافظ وي ... د شاعر ذهن پراخ او د الفاظو جادو ګر وي. وینا یې په خپله داسې ښکلې او اغېزمنه وي چې زړونو ته په خپله لار باسي. اوسمهال موږ د پښتو شاعرۍ په غېږ کې داسې ځوان استعدادونه وینو چې د هغوی وینا په خپلې شاعرانه تومنې او اغېز پر زړونو حکومت کوي. د دوی ګانده له هیلو ډکه برېښي. د دوی ذهن او زړه باید وهڅول شي چې خپله وینا د فکر و خیال په خوږو کې راونغاړي او له بدرنګو او ناموزونو غږونو ډډه وکړي. داسې څه ووایي او پر داسې ژبه یې ووایي چې د ژوند پر پاڼه خپله بڼه وځلوي او پر خپلو خوږو یې د انسان تخیلي او فکري ځواک راوپاروي او پیاوړی یې کړي.

زموږ په ځوان شعري بهیر کې یو هم د دې ټولګې ویناوال دانش دی. د دانش په وینا کې داسې شاعرانه خبرې اورو چې هغه د تخیل په پارونه او فکر په ځواکمنېدو کې ونډه اخیستی شي. د ده دغه شاعرانه خبرې او شاعرانه الفاظ داسې ذهني او عیني انځورونه وړاندې کوي چې هغه نور زموږ د ټولنې دودیز خوي ګرځېدلی دی. زموږ غوږونه او سترګې ورسره لا له وړاندې بلدې دي. خو د ده کمال دا دی چې ده په بېل رنګ او خوند کې وړاندې کړي دي. زموږ تراژیدي او زموږ د ژوند حالت هغه څهٔ دي





چې ولس ورسره بلد دي او نور یې پر وړاندې یو ډول معافیت اخیستی دی. وینې، اوښکې، جنګ جګړې، ظلم، تشدد، فساد او ... هغه وییونه او کلمې دي چې زموږ په شاعرانه او تته منظومه وینا کې خپل ځان ځلوي. د ټولنې ناخوالې او دغه تراژیدیک حالت هغه ناظم او ناثر چې تخیلي ځواک ونه لري، هغه یې داسې وړاندې کوي چې وینا یې اغېز نه لري.

شاعر همدغه حالت پر داسې الفاظو انځوروي چې هغه پر اورېدونکي اغېز ښندي او په بار بار یې لولي. زموږ مذهبي کسان او په تېره هغوی چې لا مذهبي او دیني خبرې په منظومه ژبه وړاندې کوي، ځان ورته داسې برېښي چې د پند او نصیحت خبرې یوازې دوی کوي او دا نور خوشې .... وایي. زموږ شاعران همدغه موضوعات چې ټولنه ورسره ښکېله ده، بیا تش د شعار یا موزونو خبرو په توګه نه وړاندې کوي، بلکې همدغه موضوعات د شعر په ژبه انځوروي. یوه بېلګه یې د دانش لاندې بیت ثرګندوي چې په نظم کې یې شاعري کړې ده.

دا خلک پر قبرونو شمعې ولې بلوي؟
ملګرو خیر رسېږي هلته چا ته د ډیوې

شاعران د موضوع د فقر پر رنځ نه اخته کېږي؛ خو که د خولې غږونه یې له اهنګوال تناسب او امتزاجه بې برخې شول؛ نو د ده وینا به هم لکه تشې موزونې خبرې شي او مخامخ لوری به بایلي. دوی همدغه یوه موضوع، همدغه په ټولنه کې نورې دودیزې خبرې رااخلي او د بېلابېلو بڼو په ورکولو سره ځانته مخامخ لوری پیدا کوي. د دانش وینا که د سکالو یا موضوع په لحاظ نوې نه ده؛ خو په داسې ژبه او الفاظو یې وړاندې کړې چې رنګ یې نوی دی. بل کمال یې دا دی چې پر مصنوعي

صنعتونو یې ژبه نه ده روږدې کړې او نه یې پرې انځورونه وړاندې کړې دي. دلته یې بېلګې وړاندې کوو:

نه خـو ماشوم یم او نــه عقل دومـره خام دی زما
هـرې ورې ورې خبـرې تــه دې پــام دی زمـا
ژونده دا ته به هم پر ما باندې حساب یې یو وخت
چې نــه معلوم در کې سهر او نــه ماښام دی زمـا

★★★

کـه یــو څــو تنه بـدرنـګ لـه کلـي وځـي
زه بــاور لــرم چــې جنـګ لـه کلي وځـي
کــه همـداسې ځــان ځــاني او تــالان ګډ وي
جنــازې بــه څنـګ پـــه څنـګ لــه کلي وځـي

★★★

ذکـر د رب د زړه لـه تلـه کـړو تر خدایـه رسي
شېخه! په ګوتو کې عادت موږ د تسبو نـه لرو.

★★★

سیتار راواخلئ، منګی واخلئ، ترینه ترنـګ پورته کړئ
له دغـه کلي جنــازه نــوره د جنـګ پورته کړئ

★★★

ورځم لــه هغه ځــایه مې سپــوږمــۍ تــه لاس رسېږي
دا لارې جــوړې شــوي دي پـــر غــره د څــه لپاره؟

★★★

د یــار لــه لاسه تـمـام عمـر مـجــازات ښـه یې
ته دې بې درده نـه شې زړه همــداسې مــات ښه یې
خیر دی دونـیـا دې ستا اسبـاب د برائـت نــه مني





تــه رسېــدلی خـپل ضمـیر تــه په اثـبات ښه یې

چې څـنګه پـه کې دا ځـلې د ګل شونـډې پر هر شوې
سږ کـال لـه پـسرلي نـه ګـیله ډېـره راغله

★★★

کله دې سره راتــه تـار تـار کړي کله سپین څېرې کړې
نـور دې ګـنډی نشم ګرېـوانـه ډېر دې سترې کړمه

★★★

جــانـــانــه! تــانــه شکـایـت تــر اوســه
لکه رنځـــور زمـا پـــه سترګــو کــې دی
زړه مــې زخــمي دی، دا چــې نـــه ژاړمـــه
دا خـــو غـــرور زمــا پـــه سترګــو کــې دی

★★★

له جنګه سـتـړي یوو په جنـګ کې ګـوزاره نه کېږي
ملګرو نـور د تــورو شرنـګ کې ګــوزاره نـه کېږي

★★★

د خپل وجـود قــد و قـامت سره روان نــه شومه
زه د حـالاتــو نـــزاکت سره روان نـــه شومه
دا چې تیـنـدک خـورمـه په لار او تاته نه رسېږم
ستا پـــه طـرف استـقامت سره روان نــه شومه

خو کله صنعتونه کاروي؛ نو هغه هم نوي دي. د ده کمال دا دی چې دی په تشبیه کې د وجه ښه نوښت ته پام کوي. ځکه د تشبیه په صنعت کې ټوله ښکلا او زور په وجه مشبه، د استعارې په وجه جامع قرینه او د سمبولونو په برخه کې د شخص یا لیکوال د خپل ذهني سمبول په کارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دی. د دانش له ژبې دغه یو څو صنعتونه وړاندې کوو، چې په خپل نوښت ځان راښیي:

موازې کرښې یوو نقطه د تقاطع نه لرو
زه او جانان یو بل ته لار د رسېدو نه لرو

★★★

نه شور کوي نه کلی خبروي نه دومره ژاړي
ته ماغوندې نه اوښکې تویوي نه دومره ژاړي

★★★

په شهیدانو داسې ښکلې شوې زموږ هدیرې
بس لکه یو یو چې غمی پر ځمکه ولګوم

★★★

د دانش د شاعرۍ خوږلني یوه په دې کې هم نغښتې چې لفظونه یې داسې پر اهنګوال مزي پېیلي چې ژبه یې روانه او د غږونو له تناسب او تکراره یې ښکلې موسیقي رامنځته شوې. لکه په لاندې بیت کې د «ډېرو» تکرار، د «و»، «ړ»، «ډ»، «ې» غږونو تکرار د شعر موسیقي رامنځته کړې:

د ډېرو پر مزار باندې و خت بلې کړې ډېوې
په ډېرو مقبرو باندې خوره شوه لوپټه

شعر د خبرو او کلمو د اوډون هنر دی. دغه خبرې او کلمې کله په داسې ښکلو ترکیبونو کې وړاندې کېږي چې پر معنوي ارزښت سربېره ښکلاییز ارزښت لري. په شعر کې حسي او ناحسي کلمې کله ناکله داسې ترکیبونه رامنځته کوي چې په شعر کې هغه ډېر د پام وړ دي او په تخیل پارونه کې ډېره ونډه اخلي. د دانش په شعر کې ځای نا ځای د حسي او ناحسي کلمو اوډون تخیلي ځواک څرګندوي او د لوستونکي





خیال راپاروي. لکه په لاندې بیت کې چې خندا او زړه یو بل ته غاړه باسي. خندا یوه ناحسي او زړه حسي ده. که څه هم حسي کلمې تر ناحسي د لیدونکي یا اورېدونکي تخیل او احساس ډېر راپاروي، خو دلته خندا د زړه حسي کلمې له رنګه رنګ اخستی، لوستونکی او اورېدونکی د خندا ارزښت ته د زړه په ارزښت قایلېږي، ځکه هغه خندا چې د زړه له تله وي، هغه خوږه او ښکلې وي. دلته د تشبیه نوښت په دې کې دی چې مشبه حسي او عقلي او مشبه به هم حسي او عقلي راغلې:

لکه غوټۍ چې شي موسکۍ سپرلي ته غاړه ورکړي
داسې مې ستا هره خندا زړګي ته غاړه ورکړي

په دې ټولګه کې پر هنري ارزښتونو او ښکلا سربېره داسې انځورونه هم تر سترګو کېږي چې هغه پر سترګو د ځینو کمزوریو له امله خواږه نه برېښي او یا سترګو ته اوبه نه ورکوي. لامل یې دا دی چې دانش کله ناکله په لوی لاس کلمې په داسې مصنوعي رنګ رنګولې چې طبعي رنګ یې ورته خړ پړ کړی؛ خو مصنوعي رنګ یې کومه ځلا او ښکلا نه لري. ځینې غږونه یې په اهنګواله برخه کې یو له بله سره اړخ نه لګوي. یوه مسره یې په یوه اهنګ کې ده او بله یې بیا په بل. دغه د اهنګ ټکر د شعر ښکلا تته کړې، دلته ژبنی دروونداولی شته:

نور که مې هېڅ هم په دې ړنګ کلي کې ونه موندل
مینه به درولېږم، حیا به درته ولېږم

★★★

ستا سترګې چې شي پناه له سترګو مې
ورکه شي اشنا رڼا له سترګو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دانش شاعري مخ په پخېدو ده. کومې کمزورۍ چې د ده په شاعرانه وينا کې اوس مهال تر سترګو کېږي، دا ډېرې تتې دي. د دانش له شعره داسې ښکاري چې د ده پر ذهن د لنډيو سيوری هم غوړېدلی دی.

لنډۍ يې لوستي له لنډيو سره مينه لري، په تلوتلو کې دانش ته د خدای له درباره د ښه شاعرانه سفر غوښتنه کوم او خپلې خبرې د ده پر هغه بيت راټولوم چې د لنډۍ له رنګ يې يو څه رنګ اخيستی دی:

زړه مازيګر دی ياره بس دی ښېرې مه کړه ورته
که دانش مړ شي؛ نو جانان به درته څوک وايي؟

**خدای دې نه کړي.**

**ازمون**

**۲۰۱۱/ ۱۲/ ۲۱**

**جلال کوټ**





# سفر به دیار احساس

اینجا اشک با شوق و احساس در هم آمیخته شده... اینجاه احساس می شود که قلب درتب و تاب در هوای غبار آلود سینه در تپش است.
اینجاه چقدر حسرت است که ساعت ها نا گفته های دلت را برای محبوبت با زبان احساس در روشنای شمع که شعله اش میلرزد، میخندد، میرقصد، و هم گریان است بیان کنی و هیچ مانع نباشد.
محمد نادردانش به عنوان شاعری پویا کلیات آشعار وی در وصف حال و بیان احساسات فردی و شخصی او دیده میشود. آشعار عارفانه، فرا گیری گرایش ها و اندیشه های درونی شاعر و سروده ها با موضوعات اجتماعی، ادبی، عاشقانه، و گاه رواشناختی است، گاه تاریخ گرا و گاه حماسی،گاه تغزلی و گاه ظنزآمیز و گاه ترکیبی، آشعار فهم ساده و زبان شعری دارد، دانش از زبان و قدرت شعر در ابراز عقایدش بهره می گیرد. و هم در عرصه زبان و بیان شاعرانه، به پختگی و درخشش فزون تر دست یافته است. دانش برخوردار از آگاهی پیشروی شعری و ترنّمی استوارتجربه شعری امروز توانسته میان واژه و آرمان، و میان هنر پل بزند، آشعار وی بیانگر احوال و افکار و نشانگر اندیشه و عاطفه وی است که در تمامیت مجموعه او جاري است، و سیمای روشن از شعر اش ارائه داده است، قدرت بیشتری در بیان دارد با لطافت و پختگی افکار از این مرحله گذاشته و خود را از بند احساسات فردی رها کرده به مسائلی پرداخته که جامعه به آن نیاز دارد در این

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحله سعی نموده به واقعیت صورت شاعرانه بدهد، ،در قطعات دلنشین و زیبای خود به توصیف احساسات لطیف خود مهارت خاص بخرچ داده است. دانش از جمله شاعرانی است که مسائل اجتماعی را با زبر دستی خاصی به قالب شعرونظم ریخته است، تعبیرات و اصطلاحات او ساده و عامیانه است،گاهی شعر وی از شدت روانی به صورت یک مکالمه دلنشین و زیبا مجسم میشود، آشعار اش رابه صورت عام فهم در آورده در قطعات وی به خوبی صدای نفس کشیدن و فریاد زدن حس میشود یک شگفتی برای مخاطب می‌سازد که روح آن را درگیر خود می‌سازد، مثل صدای آبی در جویی بار که گاه باد می‌آید و این صدا را با خودش می‌برد و گاه نزدیک گوش ماست،از احساس جانب مقابل الهام گرفتن و یا هم نوشتن شعر از احساس مونث، به نظر میرسد زنده گی واقعی خود را محتاطانه تمثیل کرده.

به نظر می رسد، نظم ذیل با تجارب عاطفی شخصی شاعر سرو کار دارد، جنبه های عاطفی بر آشعار سنگینی میکند به طوری که به روایت ارتباط به ظاهر ناکام بین شاعر و معبود اختصاص یافته به طوری که از لابه لای این آشعار به جزیات این ماجرای عشقی پی برد که شاعر صادقانه آن را با مخاطب خود در میان گذاشته، و از درد فراق چنین می سراید:

**تــه د رنګـونو ړنـاګانــو د ښار**
**زه د لــوګــو او د لمــبو د کــلي**
**نه زما زړه ستا څـراغـونه غواړي**
**نه ستا په زړه کې شته ارزو د کلي**
**پوهیږم تانــه هیــره شویـده اوس**
**« اکو بکو سر سینکو » د کلي**





قطعه :دیگر، ترجمانی از حس عاطفه و اندیشه عشق و زندگی را تصویرمی‌کند چنین است، لذّت از مهتاب از امواج پر از لطف دریا از ریزش کفآلود و خروش یك آبشار زیبا . نگاه چنین موجودی به زیبای های طبیعت می نگرد، زبان شعری به بیان احساسات و سردون اشعار رومانتیک موضوع غیر معمول و تبو در جامع نیست.
به عنوان مثال:

**که تــه اور شــې کــه لمــبه درغــاړې وځم**
**زه وېـرېــږم نــه، راځــه درغـــاړې وځم**
**تا تــه نــه درځي هــېڅ چــل د پخـلایــنې**
**هـــر ځـــل زه له تــا سره درغـــاړې وځــم**
**زما ستر ګو کې دې خپل تصویر لیدی شې**
**بختــورې! ایېــنه درغــاړې وځــم**
**زنده ګی نــه مې زړه تور دی مــرګه راشـــه**
**نــن پــه خپـلــه اراده درغـــاړې وځم**
**ساقي! تــا نـــه چـــا لپــاره غـــاړه اخلم**
**پیــمانــه پــه پیمـانــه درغـاړې وځم**
**دانــش چــا سره دردونـــه خپل شریک کړم**
**بــله نــه لـــرم چـــاره درغـــاړې وځــم**

دانش در قطعات که نغمه شادي را از یاد برده و اینك بر باغ بی‌برگ و برش نوحه مي‌سراید پس عجیب نیست که شاعر به جان اندوهگینش چنین غمي بنشیند و بر بخت خویش و در راه ماندگي‌اش مرثیه ساز کندبا دل آزردگي مي‌گوید: همچنان ستمها و جنایتها، و باجها و تاراجها جاري است که خود را ناگزیر از تلخي و تلخ گویي مي‌بیند چرا که بالیده و پروردۀ باغ ناکامي و تلخ کامي است؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغي که خاکش را ـ چه بسيار ـ به خون فرزندانش کشيده‌اند؛ خاك سرزمينی که درازناي تاريخش چه رنج‌ها که نديده... چه دردها نکشيده:

**له ماښامه تر سهاره، خلک تښتي**
**هم له کلي، هم له ښاره، خلک تښتي**
**خدايه بيا مو څه افت په وطن راغی**
**بيا له کوم يوه ښاماره خلک تښتي**
**چا تري ټولي څانګي پري کړي لغړ ښکاري**
**د بر کلي له چيناره خلک تښتي**

شعري که گاه با خواندنش تلخی ستم وآوارگی در هر رگمان جاری ميشود.
در اين شعر شاعر چنان غرق در تصورات شخصي خود شده. از قابليت تعميم پذيری غافل مانده است، و شعراش مانند جزيره ای در ميان تاريکی به مخاطب ميرسد، در اين موقع مخاطب هيچ راه ورود به شعر پيدا نمی کند و سرگردان راه باز گشت پيش ميگيرد، شعری که خصوصی بودن آن می توانست مخاطب را وارد فضای جديد بسازد, نگاه متفاوت و چند زبانی را در شعر خودش به کار برده است.

**ژړل مې يو سړي نه ګيله ډېره راغله**
**بېګا مې له زړګي نه ګيله ډېره راغله**
**بل هر سړی په کاڼو ولي ماته په خندا شي**
**له دغه لېوني نه ګيله ډېره راغله**
**چې زه دې مخ ته ځير شم ، نو دا شرک شي چې را پريوځي**
**جانانه ستا پيکي نه ګيله ډېره راغله**
**چې څنګه په کې دا ځلې د ګل شونډې پرهر شوې**
**سږ کال له پسرلي نه ګيله ډېره راغله**





**ګيله له خپلو کيږي خو دې خپل زړه ته حيران يم**
**چې څنګه يې پردي نه ګيله ډېره راغله**
**زه ګل ته لاس نږدې کړمه، دا کلک راپوري نښلي**
**دانشه! له اغزي نه ګيله ډېره راغله**

بايد به عرض برسانم:

به اندازه فهم و برداشت خود در اين مورد اظهار نظر نمودم. قضاوت بشتر را ميگزاريم به شخصيت های مسلکی و صاحبنظران.

به اميد موفقيت های هر چی بشتر تان در تمام امور زنده گی، و چشم براه دست آورد های تان در آينده کامگار باشيد.

**با عرض ادب**

**مژده منصور شهر کولن جرمنی**

**۰۹,۱۱,۲۰۱۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر ګلابه راته ګران دی یو سړی

د شاعرۍ منشاء او خټه خامخا  مینه او عشق وي، زه خو د شعر قوت او بې قوتي د شاعر د مینې په قوت او بې قوتۍ پورې تړم.

سمه ده چې د استادانو له ویناوو سره سم به مراقبه، مطالعه او مشاهده د شاعر د شاعرۍ ملا ورتړي؛ خو زه وایم چې د هر ناروغ نالښت د هغه په ناروغتیا پورې اړه لري. د غاښ درد ډېر وي؛ خو د ګوتې زخم هومره نه خوږېږي، نالښت یې هم همداسې درواخلئ.

که موږ شاعري له درده راپورته شوی نالښت وګڼو؛ نو بیا د شعر له تخنیکي چوکاټونو وراخوا په شاعرۍ کې ښه او نابښه نه شته، څوک به څه ډول د ډېر درد، د ډېر نالښت ستاینه وکړي او د لږ درد، د لږ نالښت، نه.

خبره په درد کې ده، زما په سترګو کې ستا د زړه له درده راپیدا شوي نالښت سره ځکه اوښکې پیدا کېږي چې دا درد پر ما هم تېر شوی دی یا ترې همدا شېبه دردېږم، زه دې نو شاعرۍ ته ښه نوم ورکوم، د هغه بل د غوږ له درده راپورته شوی نالښت ما ځکه نشي اغېزمن کولای چې تر دې دمه مې دا ډول درد نه دی لیدلی؛ خو





خدای مه کړه چې زه دې د هغه پر درد و نالښت وخاندم او شاعرۍ ته دې یې (نابښه) نوم ورکړم، که ورکوم یې زیاتی ورسره کوم.

محمد نادر دانش مې له نادرو یارانو څخه یو دی، زه یې تل د دردونو نالښت ته اوښکې تویوم، هغه هم هر وخت زما له وۍ وۍ او چیغو سره خپلې اوښکې یو ځای کوي، ما ورته یو مهال لیکلي ول چې:

کټ مټ مات زما په شان دی یو سړی
تــر ګلابــه راتــه ګـــران دی یو سړی

د هغه له زړه هم کوم ځای ماته دغسې یوه خبره راوتې وه، موږ دواړه پر یو بل ځکه ګران یوو چې زه د دانش په څېر مات یم او هغه زما په څېر، نو دواړه یو د بل شاعري یو د بل د زړونو له غږ سره سمه ګڼو.

ما د دانش شاعري ډېره لوستې؛ خو خپله دانش مې کم، د دانش کمې لوستنې هم دی پر ما  داسې زده کړی دی لکه د لومړي ټولګي الف انار، ځکه دی هم د خپلې شاعرۍ په څېر روان، ساده او ښکاره دی، دی او د ده په پوستکي کې دننه لالهانده شاعر دانش یو ډول دي.

دانش په خپله شاعرۍ کې د جانان او دوران په دواړو غمونو غمېدلی، هغه به په دې دواړو غمونو کې څومره خوند لیدلی وي چې وایي:

مرغکۍ مــې د زړګي رنځــوره ښه ده
زنــده ګي تر یــو حــد مجبــوره ښه ده

که تاسې غواړئ له مینې او عاطفې څخه جوړ دغه دانش ښه وپېژنئ؛ نو د نور ټول کتاب تر څنګ یې د پورته بیت غزل د زړه له کومې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غور ولولئ، وبه وینئ چې دانش پر جانان، قام، وطن، علم او ښکلا او رڼا باندې څومره مین دی، چېرته ولاړ دی او څه وايي؟

د دانش شاعري د هغه له قامت څخه ډېره دنګه ده، دانش لوړه شاعري کړې ده؛ خو د خپل زړه غږ ته یې غوږ ایښی او بیا یې هماغه غږ ته د الفاظو جامې ورکړي دي. هغه په دې کار کې په چا پسې نه دی تللی، بلکې د خپل زړه په غږ پسې تللی دی.

تر ما پورې، زیاتره شاعران چې کله د ګېډې د دوزخ د ډکېدو غم پر سر واخلي؛ نو له شاعرۍ ورو ورو لرې کېږي؛ خو زموږ د دانش کمال دا دی چې په باد و باران، سفر او حضر کې شعر لیکلی شي او لیکي یې. زه مې خپل ورور او د هغه شاعرۍ ته د اوږد ژوند لپاره د لوی رب دربار ته لاسونه لپه کوم، هغه ته دې ډېر مبارک وي چې موږ او تاسو یې «د ډېوې رڼا» ته کېنولو.

**درناوی**

**هجرت الله اختیار**

**جلالکوټ**





## غزلیــز مجمر

د سندریز ماښام او چاودلي زړه نه وروسته، د شعر او ادب مینه والو لوستونکو سره د ډیوې رڼا ته مخاطبېږم، د سلامونو او نېکو هیلو پر ځای ورته یوه خوږه او په ولسي لهجه ماموره ډالۍ وړاندې کوم چې د تخیُل له ښه راټوله شوې داسې غنچه ده چې د شعر او ادب د هنر هر لوستونکی په کی د خپلې خوښې او طبعیت ګل موندلی شي؛ خو دا ځل خپلو درنو مینه والو ته په یو غزلیز مجمر کې د ډیوې رڼا وړدم، چې د یو ځوان او هڅاند شاعر دانش لیکنه ده.

دانش په خام عمر کې پاخه خیالونه رانغښتي، د خپل فکر او خیال غزونې یې ډېرې په مهارت د شعر نهايي پړاو او تړاو ته رسولي او د شعر تعریف یې واقعیت ته تسلیم کړی، چې شعر هغه موزون کلام دی چې د خپل حقیقت او واقعیت په بنیاد په زړه او ذهن چک ولګوي او لوستونکی په صحنه کې واقع کړي، هغه که حماسې وي، که عشقي او یا هم د فلسفې او تصوف نړۍ وي.

دینـداري، تـقـوا، توخـه درسره واخله<br>
ممکن نـه دي تلل جنـت ته بې اسبابه<br>
دا نـړۍ بـوله پـه مثـل د سراب<br>
تـــنده نـه ماتېـږي هېڅ وخت له سرابه<br>
پـه یـوه شېـبه پیـدا او هم پناه شي<br>
د ژونـدون مانـا لـږ زده کړه لـه حبابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر لوستونکو ته د عالم کاینات د هر نعمت ذکرکړیدی او له ذکر سره سره یې د اخرت او په اخرت کې د نعمتونو او د هغه د حساب کتاب اشاره کړېده او په ژوند یې هېڅ باور نه دی پرېښی او واقعاً باور پرې په کار هم نه دی او ژوند یې صرف د حشر میدان دپاره د توخې وسیله ګرځولې خو په دغه لنډ ګنډ ژوند کې یې انساني عطایف او لطایف له نظره نه دي غورځولي او مینه یې د ژوند په ختہ کې په هنر اخکلې او د امید او درمان رنګ یې پرې ډېر په شوق شیندلی، د تصور مصور یې د خط و خال قلم له ذوقه ډک کارولی. چې د سینګار بېلګې یې تاسې ته مخې ته ږدم او د شعر او ادب مینه مو پرې ماتوم:

پــرهــر پــرهــر زړه مــې تــکور غــواړي
لېــونی! ستــا د شونـــډو اور غـــواړي
وصـــال دې یـــو رنګه لمبه لمـــبه کـــړم
فـــراق دې بــل شـــان یـــاره زور غـــواړي

★★★

له مرګ سره اشنـا کړمه ، له ژونـد سره اشنـا کړم
ستا سترګو زه د زړونو له پیوند سره اشنـا کړم

★★★

**دانــش** لار د یار په سترګو بانـدې ګـوري
دا رڼـا تــر بـــلــه هــره نــوره ښه ده

★★★

عشـقه ! نـالوستی یم ، مـا ستا سیپـارې نـه دي لوستي
خطـاء به کېــږي اشنـا ما سیپـارې نـه دي لوستي
پرېـــږده چې ولــولم د سترګو د کتـاب پـاڼـې دې
ډېــره مــوده وشــوه ما دا سیـپارې نــه دي لـوستــي





زمـا د کاڼــي زړه نـــه کـرکـه کېـــږي
زه پــه سینه کې زړګـــی مـــوم ساتـــم
جـــانان مې خـــوي د ماشومـــانـو کوي
زه بــه تـر څـو زړه د ماشـوم ساتـم؟

★★★

ډېـــره مــې **دانــشه**! د لاسا کــړه خـــو
مــړه دې شي جـذباتـو کې دا نـــه راځي

خو شاعر په یو شعر کې په نازکه ژبه خنډینه ګیله له خولې ایستلې ده خو چې دا ګیله یې د کوم امید په طمع په زړه کې غولغُله او په اورینه حساسه کې له خولې وتې چې منفرد او جداګانه جذبات غواړي. د شعر مرکزي هسته په کوم مدار څرخوي که دا یې په ډاګه کړې وای؛ نو ښه به وای ځکه چې د خیال نا وکۍ خو یې په جذباتوکې واقع ده هغه په مرور حالت کې ده او که په نازنینه ادا کې په کومه صحنه کې چې دلاسا ضروري شي؛ نو هغه صحنه حتماً جذباتي شي، دلاسا او جذبات پر یوه وخت فضا منفي اثر ته وړي، خو دلته مثبت دی. شاعر خپله اعتراف کړی او لوستونکي یې په انحراف کې پرېښې دا هم د ډیوې رڼا ته سوری دی، شاید شاعر دغه سوري ته د جذباتو اظهار غوښتی وي خو بریالی شوی نه دی، ځکه یې بې درېغه ښېرا له خولې وتې چې مړه دې شي جذباتو کې دا نه راځي؛ خو ډېر زر یې خپله ګیله بېرته اخیستې او په وصال دومره باوري شوی دی، چې د زمانې د ناخوالو هېڅ پروا یې نه ده کړې او نامنونکي هجران ته یې په زغرده د مبارزې اخطار اعلان کړی:

هجـره! که ستا ترخې شپېې مو تر مرګي ورسی
نـــور بـــه دې څـــومره پـــوروړي او باقي پاتـــې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینې او محبت په لار کې یې اغزن هجران ډېر شاته پرېښی او په تادۍ تادۍ یې ځان د عشق منار ته رسولی او هلته یې د عشق په ګل ورین ثاني جنت کې خپل سکون موندلی او بې واکه یې نامرادې ښېرې له یاده ویستلي او خپل مقدس مرام ته یې رجوع کړې او په وفا یې ایمان څرګند کړی.

د اغـزیـو خـوا ته تم لکه جـانـان دی
پـه دې بـوټي کې ګل سم لکه جانـان دی
لاړم ورسېـدم عشـق کې انتـها ته
د جانـان غم راتـه هم لکه جانـان دی

شاعر که له خپل فشار سره سره د لوستونکو فشار په ګیله منو خاطرو په غمیزو صحنو اعظمي درجې ته لوړ کړی، نو بېرته د صداقت او وفا په خوږو او د محبت په صحنو او د هغه پر اعتراف له تریخوالي ویستی او په ډېر مهارت یې په پرله پسې شعر نارمل او معتدل حالت ته راوستی او قناعت یې اول خپله کړی او بیا یې لوستونکي ته ورکړی. داسې برېښي چې ښاغلی شاعر په خپله هم د الفت د تغر په پیڅکه ناست او په یوه وخت له نشیب و فراز سره مخامخ دی خندا او ژړا یې غبرګه ده:

چې پـه راتلو کې یې د تـلو نـښې دي
دایې خنـدا که د سلګو نـښې دي
په دانـش غم او ښادي ګـډه راغله
ځکـه یـې ورکې د لیمو نـښې دي

دا حالت د دې ښکارندوی دی چې دانش صیب د نازک مزاج او نري زړه خاوند دی خپلې سل ګیلې د یار په یوه خندا هضموي او له خولې یې نه وباسي نو ځکه ورته وایم چې:





کله کانې غوندې کلک شي کله ګل غوندې رژېږي
عجب خوی دې دی دانشه چې په توکه ام خپه کېږي

خو شاید علت یې دا وي چې په یوه وخت کې په یوه سینه کې دانش دوه زړونه ساتلي چې په یو زړه کې د یار مینه او په بل زړه کې د وطن او قوم مینه پالي. دا پالنه حتماً زور غواړي خو دانش په کوچني عمر کې پخې مینې ته اراده کړې او انصاف یې هم بد نه دی؛ ځکه که د تخیُل او تصور پر محور یې د ارمان ناوکۍ نازولې او انساني اکرام او احترام پېرزوینه یې پرې کړې نو له وطن سره د مینې ناوې یې بې پوښتنې نه ده پرېښې او د خیال په رنګین قلم یې غبرګې ناوې ډېرې ښې سینګار کړي، که په انساني مینه کې په اکرام او احترام قایل دی همدغسې د وطن په مینه کې د ولس په پیوستون او ویښتابه یقیني دی د خاورې سالمیت په یووالي او اتفاق کې ګوري د مینې او خلوص وېش یې مساویانه دی:

که یـو څـو تنـه بـدرنـګ له کلي وځي
زه باور لـرم چـې جنـګ له کلي وځي
که بې ننګـو ته مـو خپلې سیمې فرش کړئ
پښتنو! ستاسې به ننـګ لـه کلي وځـي

یا دا چې:

متـــــې راونغاړۍ امـــو نه اباسینه پـــورې
له هر یو کانې نه د خپلو وینو رنګ پورتـــه کړئ
قـلم ښــــه دی کـتاب ښـه پـــه لاسـو کـې
خـــو تـــر دې هـــم کلـه کلـه تـــوره ښـــه ده

★★★

کـه د خپـل وجـــود بقا غـــواړئ ملـــګرو
دښمـنـانـــو بانـــدې مور تل بـــوره ښـــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا مې سينه لمبو ته سپر ده، لا بې وسه نه يم
ټوپک په لاس هم مې په غاړه ګردنۍ ساتلې

خو د سولې پيغام هم زمزمه کوي او خپل ولس د جنګ او نفرت له اوره لرې ساتي:

له جنګه ستړي يوو په جنګ کې ګوزاره نه کېږي
ملګرو نور د تورو شرنګ کې ګوزاره نه کېږي

★★★

پـــه شهيدانـــو داسې ښکلې شوې زمونږ هـــديرې
بس لکه يـــو يـــو چـــې غـــمې پـــر ځمـــکه ولګـــوم

لکه څرنګه چې شاعر د خپل دود او دستور په درنو کاڼو د تخيُل او وطن مينه تللې ده همدغسې يې د نوي نسل د ذوق خيال هم ساتلی او د شعر په دنيا کې يې ازاد شعر سره هم انصاف کړی او له پامه يې نه دی غورځولی خو هغه لذت او لطف چې شاعر په ولسي او دوديزه شاعرۍ کې مومي په ازاد شعر کې نه دی موندلی خو د ټولنې د ځوانې طبقې خاطر پرې ګران دی او د دغه صنف سره يې هم اشنايي ښودلې ده او په ټک ټک کې يې مخ ورګرځولی او د ذهن تر نيوکې يې ترې څه رااخيستي چون د دا نش د شعري ټولګې بحث دی خو د نثر په ډګر کې هم جلوه ګر دی او د نثر ليکنې کمال او جمال هم لري د وعدې په نامه د ده د نثر بېلګه ده چې په تمثيلي ډول د يو سندريز سريال په شکل د خپلو مينه والو د ذهن د تسخير په منظور يې ډالۍ کړې، نورې ليکنې هم لري او لګيا دی قلم يې ګرځندی او ذهني ذوق يې ژوندی دي. په يوه وخت له لوستونکو سره سره د اورېدونکو په ذهن هم قبضه اخلي. د دانش د شعر خاصه ښکلا او کمال دا هم دی چې شعر يې موسيقيت لري، هغه يې که



سریزې

غزل وي، رباعي، چاربيته، نظم او که ازاد شعر او هر شعر چې موسيقيت ولري هغه تل پاتې وي او زر له مينځه نه ځې تل د خلکو په زړونو او ذهنونو کې ناست وي. زما ياد شي چې دانش د شعر په توده ځمکه لومړنې قدمونه ايښودل نو شعرونه به يې ماته ښودل ما به له نظره تېرول يوه نيمه نيوکه به يې داسې کړې وه، چې ډېره پخه نښه به يې ويشتلې وه، چې د ډېرو پخو پخو شاعرانو د ربړې لاندې به پټه وه، زه به حيران شوم چې دانش په ابتدا کې د دومره ذهين او محلل احساس خاوند دی دا به په انتها کې کوم حدود احاطه کوي واقعاً چې دانش زما له اټکل سر سم په يو وخت کې په دواړو ډګرونو کې وځلېد چې هغه يو د نثر ډګر او بل د شعر شايد زما دغې اټکل سره د نقد وارثان اتفاق ونه کړي خو زه ورته په ډاګه وايم چې مه چلوئ د تعصب لينده پريدئ چې د خيال کوټترې د خپل پرواز وزرې د ابتکار او تخليق په ګل ورينه فضا کې پرانيزي پريدئ چې سپرلی ګلونه وغوړوي او په ټول چمن کې د تخيُل د غنچو رنګونه وشيندي. د تعصب پر ځای له هڅونې کار واخلئ، تر څو هر دردمن د پښتو شعر او ادب خوجين ته د ذهن له رشي نه څه مېوه ورواچوي او هغه مقدار خپل کړي چې د نړۍ نورقومونه پرې وياړي او فخر کوي.

ځان ته من او بل ته پاؤ ښه نظر نه دی
د انصاف تله په لاس قضاوت ګرې
که د نقد په وجه زړه د مين مات کړې
يې به لوړ لکه چينار خو بې ثمر يې

خو زه به د نقد د وارثانو له قصده د دانش د ارمان او تخيُل ناوکۍ ته په ډاګه وايم او ګواهي به ورکوم چې ستا د حصول لپاره يې هلې ځلې کړي

دي شبګیرونه یې کړي دي د تفکر ستوري یې په مقایسوي جنګ وروستي سپوږمۍ سره یې عداوتونه کړي او د هغه له رڼا نه یې نور اخیستی ستا د سینګار لپاره او په جار جار به ورته وایم چې:

ستا د یادونو میلمستیا یې ډېره ښه کړیده
تمامه شپه ورسره ناست ؤ د ډیوې رڼا ته
که ستا د مینې خاطر نه وای په دانش باندې ګران
لېونی نه دی چې کیني دې بې اثرې رڼا ته

نو قدرمنو او زړه ته رانږدې د شعر او ادب لوستونکو مینه والو ما خو د دانش د ډیوې رڼا ته ډېر څه وموندل او اوس وار درکوم تاسې ته چې تاسې هم د ډیوې رڼا ته کینئ او د خپل طبعیت د زړه او ذهن د ذوق بېلګې په کې ومومئ دا تاسې او دا مو د ډیوې رڼا.

**په ټوله ادبي پښتنه مینه**

**داکتر عبدالقدیر پښتونمل**

**ننګرهار جلال اباد**

۱۰-۱۰-۱۳۹۰





# د ډیوې رڼا ته!

درنو لوستونکو! د ډیوې له نوم سره ټول اشنا یو، ډیوه مو لیدلې ډیوه مو کارولې او اوس هم کله نا کله د ډیوې زړه راښکوونکې رڼا ته کینو. ممکنه ده ډیوه ونه توانیږي چې تر ډېره تیارې رڼا او تربږمۍ له مینځه یوسي، خو په خپلې تتې رڼا د نور او تیارو تر مینځ توپیر په ډېره ښه توګه په ډاګه کولای شي، دا رڼا که هر څومره لږه او تته هم وي خو زړونو ته ډېره روښنایې ورکولای شي. زمونږ په ټولنه کې د شهیدانو پر مزارونو خلک ډیوې بلوي، همدا ډیوه په کورونو کې هم بلیږي، ډیوه د علم او پوهې سمبول هم دی او ... ما هم له کوچنیوالي څخه تر اوسه ډېرې شپې د ډیوې رڼا ته رڼې کړي، د همدې ډیوې تتې رڼا ته مې د سپین کاغذ پر مخ ښایسته ډېرې کرښې د شعر په نامه کښلي دي.

زه د دې شعري ټولګې ((**د ډیوې رڼا ته**)) په اړه خپله د ښه او ناښه قضاوت نه کوم او نه دا وایم چې شعرونه مې راڅخه ورک ول، دلته ول، هلته ول، نه مې غوښتل چې چاپ شي او ... دا حق لوستونکو ته ورکوم؛ ځکه حق یې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو چې همدا شیبه مو د ډیوې تتې رڼا ته لیکل شوې ټولګه په لاس کې ده، تر بل هر چا ښه نظر څرګندولی شئ، زه هم له تاسو هیله لرم چې د دې کتاب له لوستلو وروسته خپلې مشورې او نیک نظرونه له ما ونه سپموئ، ښایي په دې کار تاسو هم له هغه کسانو شئ چې تر دې مهاله یې زما لاس نیوی کړی او تر ډېره یې په دې ډګر کې له ښویېدنې ژغورلی یم .

خوږو لوستونکو! د ډیوې په دې تتې رڼا کې ښايې له یو نیم داسې شعر سر مخ شئ چې د مستۍ او شوخۍ رنګ به پکې له ورایه ښکاري، زه له تاسو ښاغلو او اغلو مخکې تر مخکې بښنه غواړم، دا چې دا یو نیم شعر ما ډېر پخوا لیکلی؛ نو هیله من یم چې زما د عمر د غوښتنو او تقاضو په نظر کې نیولو سره راته بښنه وکړئ او په دې شوخۍ مې ګرم ونه بولئ.

له درنو استادانو هر یو استاد فضل ولي ناګار، استاد لعل پاچا ازمون او ښاغلي ډاکټر عبدالقدیر پښتونمل څخه د زړه له کومې مننه کوم چې له ډېرو بوختیاوو سره سره یې بیا هم زما پر کتاب د خپل اند خواږه ولورول؛ سریزې یې پرې ولیکلې او ماته یې د شعر و ادب په ډګر کې د وړاندې تګ ډاډ راکړ.

ښاغلی هجرت الله اختیار او اغلې مژده منصور هم د مننې حقدار ګڼم، چې په ډېره مینه یې پر کتاب لنډې؛ خو خوږې لیکنې وکړې، له ښاغلي اختیار څخه به یوه ځانګړې مننه د کتاب د پروف د کتنې په پار هم وکړم ښېرازه دې وي. د یار خپرندویې ټولنې له مسول ښاغلي رحمان الله بهیر څخه هم نړۍ مننه چې کتاب یې ډیزاین کړ





ښایسته پښتۍ یې ورته جوړه کړه؛ او د خپریدو چارې یې په خپله غاړه واخیستې.

محمد فاروق دیدار بیا هغه څوک دی چې هڅونې او لاس نیونې یې زه د دې ور کړم چې دا دی نن ستاسو مخې ته د ډیوې رڼا ږدم، له ښاغلي دیدار څخه په مننه نه خلاصېږم او نه یې د خوږې ملګرتیا پور پرې کولی شم؛ ما به په لومړیو کې هم خپل شعرونه تر هر چا دمخه دیدار ته ویل او اوس هم له لیکلو سره سم یې د دغه خوږ ملګري تر غوږونو رسوم ، دیدار هغه څوک دی چې زه یې د شعر له ښاپېرۍ سره یارانې ته و هڅولم؛ له ستر څښتن جل جلاله څخه ورته د اوږد او سوکاله ژوند غوښتونکی یم .

په تلو تلو کې غواړم چې له هغه انسانه هم مننه وکړم ، چا چې وخت ناوخت درد راکړی، تر سهار یې د ډیوې رڼا ته کېنولی یم، د پرهرونو څړیکې مې کړیکې شوې، بیا ترې په منظوم ډول د شعر په نامه یو څه جوړ شول او اوس د یوې شعري ټولګې په بڼه ستاسو په لاسونو کې دي. زه یې د تېرو احسانونو پوره وړی او په راتلونکې کې هم ترې د دا ډول حاصلخېزه درد او غم غوښتونکی یم.

نور نو نه غواړم چې دلته راسره تم شئ ، په ډېره مینه مو د هغې ډیوې رڼاته بولم چې ما ورسره شپې سبا کړې، په دې هیله چې له لوستلو یې خوند واخلئ او زړه ته مو لار وکړي، دا تاسو او دا هم د ډیوې تته رڼا.

**په شاعرانه ولولو**
**محمد نادر دانش**
**جلالکوټ خپله مېنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په نوم غواړم پناه له دې عذابه
الله نه یم د دوزخ د اور له تابه

دا نړۍ بوله په مثل د سراب
تنده نه ماتېږي هېڅ وخت له سرابه

په یوه شېبه پیدا او هم پناه شي
د ژوندون مانا لږ زده کړه له حبابه

دینداري، تقوا، توخه درسره واخله
ممکن نه دي تلل جنت ته بې اسبابه

ورځ د حشر الله خپل په عدالت کې
**دانش** مه کړې مخ تورن او لا څوابه



موازي کرښې یو نقطه د تقاطعُ نه لرو
زه او جانان، یو بل ته لار د رسیدو نه لرو

هغه سپوږمۍ ده، چې تر ما راځي نو شپه سبا وي
زه لکه لمر فرصت د یو بل د لیدو نه لرو

داسې هم نه ده چې خوښي راته ژوند نه راکوي
داسې وخت هم نشته، چې اوښکه پر ښو نه لرو

ذکر د رب د زړه له تله کړو تر خدایه رسي
شیخه! په ګوتو کې عادت مونږ د تسبو نه لرو

**دانشه**! زه او جانان،خدای شته چې تر اوسه پورې
اظهار د مینې په څرګندو کلیمو نه لرو

١١/٧/١٣٩٠ جلال اباد ننګرهار

ستا د مینـې اراده نـه وه، جانانه!
او زما بله چاره نـه وه، جانانه!

زما زړه تـه، تـه لـه هرې لارې راغلې
خو ستا زړه ته دروازه نه وه، جانانه!

ستا به سترګې خوبولې شوې او مړې شوې
لامړه شوې به ډیوه نه وه، جانانه!

زما سترګو تـه راګوره ځان سینګار کړه
درسره کـه ایـنه نـه وه، جانانه!

په **دانش** دې دغه پاتې ژوند حرام شي
کـه یې مینه تاسره نـه وه، جانانه!

۱۳۹۰/۱۲/۱۵ جلال اباد ننګرهار



نـه خو ماشوم یـم او نه عقل دومره خام دی زما
هـرې وړې وړې خبرې تـه دې پام دی زما

ته په غلطه یې او ستا هره ادعا ناحقه
زه چې منم در سره خدای کړی ناکام دی زما

ښکلو نه کرکه لرم خدای شته چې ډیر بد خلک دي
تـه خفه نـه شې ستا ښکلا تـه احترام دی زما

ګوندې چې هیر دې کړم په دې نیت میخانې ته لاړم
اوس هم خُمار یمه، او س هم په لاس کې جام دی زما

ژونده! داته به هم پر ما باندې حساب یې یو وخت
چې نـه معلوم در کې سهار او نـه ماښام دی زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغروره نـــه شې، چې بس یو په تا مې زړه خوږ شوی
دغـــه عـادت پـــه ټـــولو ښکلو بانـدې عام دی زمـا

هغـه چـې زه یې خپل تـر خـنګه هم زغملی نه شوم
**دانـشه**! اوس په هـم هغـه زړه کې مقـام دی زمـــا



که یـــو څـــو تنـــه بـدرنـــګ له کلي وځي
زه بـــاور لـــرم چـې جنـګ لـه کلي وځي

که بـې ننګو ته مو خپـلې سیمـې فرش کړئ
پښتنـــو! ستـــاسې به ننـــګ لـــه کـلي وځي

کـه همـــداسې ځانځـــاني او تـــالان ګډ وي
جنازې بـه څنګ پـه څنـګ لـــه کلي وځي

چې پـه ســرو منګلـــو خیر ورتـــه را باسې
نـــو والله کـــه دا ملـنـــګ له کلي وځي

هسې وایې چې ساده یـم سینـګار نـــه کړم
د بنګړیـو خـو دې شرنـګ لـــه کلي وځي

۱۳۸۳/۱۲/۱۸ ننګرهار پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه دې نه ورځ ګوري، نه شپه راباندې راشي
چې راشي، راشي، نو چپه راباندې راشي

چې ښکلي چېرته ګورمه؛ نو ورکه کړمه لاره
اشنا ستا د لیدلو تلوسه راباندې راشي

چې تاسره نانځکه، زما غاړه کې لینده وي
جانانه! بیا دې هغه زمانه راباندې راشي

تیاره وي ډیوه بله، زه لګیا یم ورته زړه خورم
چې زړه د چا په یاد خورمه، هغه راباندې راشي

په ژوند به مې ملګرو! جانان رانه شي تر خنګ؛ خو
کېدای شي یوه ورځ پر هدیره راباندې راشي



بلا غزلې لیکمه، جانانه ستا په یاد کې
چې کله د شعرونو ملکه راباندې راشي

دا زړه به مې ما وژني، چې جانان پکې اوسېږي
**دانشه**! د همدې زړه به حمله راباندې راشي

۱۷/۱۲/۱۳۹۰ جلال اباد ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

شک او پــه شبهــاتو کې دا نــه راځي
شتــه، په امکانــاتـو کې  دا  نــه راځي

مینــه ده، مـادیــاتـو کې دا نــه راځي
بــس مشاهـــداتـــو کې دا نـــه راځي

تـــه او زړه  خوړی، له عقلـــه لرې ده
ستا پـــه خصوصیـاتـوکې دا نـه راځي

دا چې ستا بېلـتون بـه مې نـور ووژني
هېڅ دې په خیالاتو کې  دا نـه  راځي

هـــرځل دلـوظـــونو ماتـــول ګراني!
ښـــو منـــاسبـــاتـو کې دا نـــه راځـي



مـــا تـــه دې پېـــروي اننـــګي ښکاري
ګـــر چې لبنیـــاتو کـــې دا نـــه راځي

ډېـره مـې **دانـشه**! دلاسـا کـړه؛ خو
مـړه  دې شي جذبـاتوکې دا نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شورکوې، نه کلي خبروې، نه دومره ژاړې
ته ما غوندې نه اوښکې تویوې، نه دومره ژاړې

جانانه! ستا د ذهن عجیبه شانتې جوړښت دی
شپه شپه کې هر څه هېروې، نه دومره ژاړې

د ویر په چم، د غم په ښار کې ساه اخلې او پایې
زړګیه! افرین شه چې نه چوې نه دومره ژاړې

دا مینه به نو ستا پر ښکلا څه بد اثر وکړي
نه شپې لکه زما شوګیروې نه دومره ژاړې

**دانش** ځان غولومه ستا د دروغو په لوظونو
پوهېږم نه زما له غمه مرې نه دومره ژاړې
۲۰/۱۰/۱۳۸۹ جلال اباد ننګرهار



ژوند دی ډک له شر و شور په ښاریه کې
اوبه کېږي د زړه زور په ښاریه کې

هر سړی په کې په منډه دی،اوتردی
لکه بل وي چېرته اور په ښاریه کې

یو د بل سترګو کې تش خاورې شیندل دي
ما څه ونه موندل نور په ښاریه کې

محبت دلته له یوکس سره نه شي
غولوې به درې څلور په ښاریه کې

له یوه سره لوظونه بل غاړې
دا کار هم نه دی پیغور په ښاریه کې

نه دېرې شتـــه، نه چيلم او نه کټـونـه
نـه هـغسې ټـنګ ټکـــور په ښاريـه کې

ما **دانش** ترې څادر ټک واهه روان شوم
نـه کـورخوند کوي نه ګـور په ښاريه کې

۱۰/۰۱/۱۳۸۹ جلال اباد ننګرهار



پـــرهر پـــرهـر زړه مـې ټکـور غـــواړي
لېـــونی! ستـا د شـونـدېو اور غـــواړي

وصـال دې يـو رنـګـه لمبـه کـړم
فراق دې بـل شـــان يـاره زور غـــواړي
ستـــا خپلـولـــو مې ځـــواني وخـــوړه
څـومـره کـلونـــه بـه لا نور غـــواړي؟
خير دی که وخـت سـره جـدا کړو ياره!
زړه خو مې ستا په زړه کې کور غواړي
د زړه غمـونـــه ربـل کبـــــړي ګـله!
خو يـو ځـل ستـا د نظر لـــور غـواړي

ساقـــي! پيـالې يې مخکې مــــه شرنګـوه
**دانـش** خـمـونـه درې څـلـور غـواړي
۱۳۷۸/۹/۱۸ جلال اباد ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیتار راواخلئ، منګی واخلئ، ترېنه ترنګ پورته کړئ
له دغه کلي جنازه نوره د جنګ پورته کړئ

ګودر ودان دی، پېغلو راشئ او منګي راواخلئ
له سپینو لېچو نه د شنو بنګړیو شرنګ پورته کړئ

متې راونغاړئ امو نه اباسینه پورې
له هر یو کاڼي نه د خپلو وینو رنګ پورته کړئ

چې بې وفا یار مې له ورایه مزار وپېژني
یو څو جنډې زما پر قبر څنګ په څنګ پورته کړئ

ملګرو! واورئ چې **دانش** کله محفل ته راشي
ښکلي دې ناست وي پروا نه کوي، بدرنګ پورته کړئ

۱۳۸۱-۲-۷ جلال اباد ننګرهار



د اغزیو خواته تم لکه جانان دی
په دې بوټي کې ګل سم لکه جانان دی

لاړم ورسېدم عشق کې انتها ته
د جانان غم راته هم لکه جانان د ی

یو خوږ درد مې زړه همدا شېبه احساس کړ
له ما وړاندې یو قدم لکه جانان دی

هر سړی زما د غم په ټغر کېناست
بیا هم یو تن په کې کم لکه جانان دی

چې په زړه درته ټک درکړي او روان شي
دغه یوخوی د لړم، لکه جانان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته یاده شوه د چا د بارخو اوښکه
پر ګلپاڼه دا شبنم لکه جانان دی

یو ناخاپه د **دانش** غېږې ته پرېوت
څکلی بیا چېرته چلم، لکه جانان دی



ډېره رڼا زموږه سترګې نیسي
دا ستا ښکلا زموږه سترګې نیسي

موږ د ډېوو رڼا ته شپې کړي دي
پړک د برېښنا زموږه سترګې نیسي

له سپیني خولې دې راته مه تېرېږه
ګوره دا بیا زموږه سترګې نیسي

د ملایانو سکني وروڼه یوو
خوږه حلوا زموږه سترګې نیسي

**دانشه**! مینه د ګاونډ د ښکلو
نه کړو، سبا زموږه سترګې نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک مــو پــه کــاڼــو بــانــدې ولي رالــه سر ماتــوي
څوک مو څېرې،له ببخه وړي، څوک مو ننستر ماتوي

کـلي پــه کـلي خــواره شــوي د غـم تخـُـم شيـنــدي
شنــه چينـــارونه مـــو لـــه غـــاړو د ګـودر مــاتــوي

زمــونـږ د کــلي ښاپيـــرې زمــونـږ د کـلي پـه منځ
د قـاف ديــوانــو ده نيـــولې تـــرې وزر مـاتـــوي

پښتــون احساس مــې لـه کابـــل ځـي تـر اټـکه پـــورې
د غـــزل تُـــــده د حمـــزه پـه خـړ خـــيبر مـــاتـــوي

خلـکو روژې پــه خُـــرمـــا مـــاتې کړې ثـــواب لپـــاره
**دانـــش** روژه د يــار د شونــډو پـه کوثـــر مـــاتـــوي



زه يې په نوم باندې د خداى پر ځمکه ولګوم
په سجـده پـرېـوځم، تندى پـر ځمـــکه ولګوم

دا پښتون سر چې له غرور هسکه شمله ګرځوي
د رب لپـــاره زه همـدى پر ځمکـه ولګـوم

خالقـه! تـه يې راته ګل کړې پر خپل فضل و کرم
که چېرته سهـوه کې اغـزى پـر ځمکه ولګوم

په شهيدانو داسې ښکلې شوې زمـــوږ هديرې
بس لکه يـو يـو چې غمى پـــر ځمکه ولګوم

تا دې خداى راولي پر لار درته ګلان نه شيندم
**دانـــش**، بـه خپل درته زړګى پـر ځمکه ولګوم

د غربت لمبو سېځلي دي دا خلک
دمه نه شول، ستړي ستړي دي دا خلک

په يوه ځمکه هم ځای د دوی ونشو
هرې خوا ته ځغلېدلي دي دا خلک

اوس خو دلته د هر چا قيمت معلوم دی
چا پېرلي چا پلورلي دي دا خلک

چې په کومه ځمکه اور دی دوی بل کړی
د همدغې کور و کلي دي دا خلک

تر کاله يې د لېوانو ډلې راغلې
بيا هم شور نه کوي غلي دي دا خلک



څه د دې وطن بچي شول خپله روي
څه له بل ځايه راغلي دي دا خلک

د هر چا له ستر گو پرېوتل **دانشه**!
لکه اوښکې څڅېدلي دي دا خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تـه د څه لپـاره شـــوې او زه د څـه لـه پـاره ؟
ای یاره! مونـږه دواړه شو، خواږه د څـه لـه پـاره ؟

تـر کَسو دې د سـتـرګــــو، رسېـدل اسانــه نـه دي
اغـزن سيمان دې تـاو دي، ترې بانه د څه له پـاره ؟

زمـا پـه يـو ځـل سترګـو اړولـو دې اور واخـيست
دا تا نـو پـــه لـومړي ځل راکـاتـه د څـه لـه پـاره ؟

چې غم د جـانـان ډوب نه کړي، د مـيو په پيالو کې
ساقي! نـو ميـخانې تـــه دي راتـله د څـه لـه پـاره ؟

ورځم له هغـه ځايـه مې سپـوږمۍ ته لاس رسـيږي
دا لارې جـوړې شوي دي پر غره د څـه لـه پـاره ؟



سپين سترګې خـدای ته وګوره، دا سترګې توروه لړ
راوړې درتـه مـا دي نو رانـجـه، د څـه لـه پـــاره ؟

تر دې ځايه چې راغلې بس لـړ نور همت په کار دی
**دانـشـه**! شوې په وره کې زړه نا زړه د څه له پـاره ؟

١۶/٣/١٣٩٠جلال اباد ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژونـد

- ولې دې ووژلـم؟
- دا مانه ولې پوښتــې؟
- ځکه قاتل مې تـه يې
- منم په توره ما ټوټـه ټوټـه کړې
خو بـاور وکړه ما وژلی نـه يې
- نو بيا دا خوږ ژوند مانه چا واخيستـه؟
- چا چې ؤ ژونـد درکـړی !!!



له مرګ سره اشنـا کړمـه، لــه ژونـد سره اشـنا کړم
ستا سترګـو زه د زړونـو لــه پيـوند سره اشـنا کړم

ډګـر د حـماســو راتــه چــا کــله ؤ ښـــودلی
ټپــې د مــلالۍ؛ زه له مـــيـــوند سره اشـنـــا کړم

ستا سترګې به مې څنګه اوس د سترګو له څـار وځي
چې سترګو دې د سترګو د جنګ خوند سره اشنا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ډېرې شپې شوګيرې کړې دي يوې رڼا ته
سپوږمۍ! پوهېږې؟ ستا د سپين مخ د کاسې رڼا ته

ستا د يادونو مېلمستيا مې ډېره ښه وکړله
تمامه شپه ورسره ناست وم د ډېوې رڼا ته

شپه د وصال مې هم د يار مخ ته سم و نه کتل
زما به سترګې ميرات مړې برېښېدې رڼا ته

دا د مخ نور، دا پېغلتوب به تر قيامته نه وي
خو ډېر زلمي به لوليه کړې ګرانې! دې رڼا ته

هغه دې زلفې کړې خورې په مخ چې شپه جوړه شي
**دانشه**! ته به نو تر څه وخته زړه خورې رڼا ته



# د پای ټکی

په ډېر کم وخت کې ګرانې!
موږ سره ډېر خواږه شو
خو،
شايد دا خوږوالی
د بدو سترګو بد نظر وواهه
تا پر زړه کاڼی کېښود
يا خو دې زړه کاڼی شو
زما د زړه دې هېڅ پروا ونه کړه
ډېر په اسانه دې بې غوره ياره
دې محبت ته د پای ټکی کېښود
او
په دې توګه دې رالنډه کړله
((نور مې هېڅ نه خوښېږې!!!))
ډېره بښنه غواړم!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ځل راتـه جانـان ګوتـه څنډې چې تا پرېږدم
پـه دې خـبـره مـا لمـبـه کـوي چې تـا پـرېږدم

ستـا زړه دی لکه کـانړی دا زغمـلی شي جانـانـه!
زما زړګی له ډېـره غمـه چـوي چې تـا پـريـږدم

جامـونـو کې دې هغه پخواني خُـمار اوس نشته
بې خونده دې شراب ښکاري ساقي! چې تا پريـږدم

ځـه ښه شـوه، اعتـراف اشنـا پـه دې خبـره وکړ
پوهېـږم دا ده، ډېـره نـاځواني چې تـا پـريـږدم

دا ټـکي ورتـه بـيـا ځلې تکرار نـه کـړې دلبـره!
**دانـش** ګـوره پـه دغه ټکي مري چې تا پـريـږدم



د يـار لـه لاسه تـمـام عـمـر مـجـازات ښـه يـې
تـه دې بې درده نه شې زړه! همداسې مات ښه يې

نـه تـا زه درک کـړم او نـه ما ته سهي وپيـژنـدې
زه تـــا لـپــاره معـمــا تـــه طلـسمات ښـــه يې

هغـه يم زه چې ستا په ژوند کې لکه زهـر ګډ شوم
جـانـانـه! تـه خـو لـکـه قـنـد لـکه نبـات ښـه يې

زړګيـه! تـا کې شـو احساس د مينـې ولـې پيـدا؟
ټـوټې ټـوټې ذرې ذرې لـه دې نـه زيات ښـه يې

سـتا حـقيـقـت بـه ډيـر د زړه بـرجـونـه ونـړوي
خوبـه! ربـتيا نه شې ای خوبـه تـه خيـالات ښه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیـر دی دنیـا دې ستا اسبـاب د بـرائت نـه مـنې
تـه رسېـدلی خپـل ضمیـر تـه پـه اثـبات نه یې

هسې نـه بـیا یې مـخ تـه دود شي او لمبه لمبه شي
**دانـشـه**! تـه مـحروم د یـار لـه مـلاقات نه یې



پـخوا بـه پـر بـلـۍ سـره راښکـاره شوه لوپټـه
خـو اوس نـه بلۍ شته، نه چا سره شتـه لوپټـه

پـه کلي کې یوه نیمه نجلۍ ټیکرۍ پر سر کړي
خـو ښـار کې جنـازه شویـده، مړه شوه لوپټـه

د ډېـرو پـر مزار باندې وخت بلې کړې ډیوې
پـر ډېـرو مقبـرو بـانـدې خـوره شـوه لوپټـه

د بـم له یوه درز سـره شور جوړ شو پـر ګـودر
منګې ټـوټې ټـوټې شـو او لمبه شـوه لوپټـه

اخر هم **نـادر** ستا په غیر کې ساه ورکړه او مړ شو
پر وینـو د **دانـش** بانـدې دې سره شوه لوپټـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نيمو شپو کې د سپوږمۍ رڼا ته
موږ په لېمو کې ځنګول خوبونه
زموږ د سترګي ژوند له سترګې مينې
**دانـشه**! چـا وتښتــول خوبـونـه

نـور دريـسې نـه ژاړم سلګـو مې ګـټـه ونـه کـړه
بس دی د رڼـو اوښکـو ډېـوو مې ګـټه ونـه کـړه

نـه پرې زه تسکين شوم او نه تا ورباندې اور واخيست
هېـڅ دې سـوو سـوو اسـوېلو مې ګټـه ونه کړه



مـرغکـۍ مـې د زړګي رنـځـوره ښه ده
زنـده ګـــي تر يـوه حد مجبـوره ښه ده

قـلم ښه دی، کتاب ښه دی پـه لاسو کې
خـو تـر دې هم کـله کـله تـوره ښـه ده

د هـېـواد مينـه مـې ورولي غـزا تـه
خـوږه يـاره! تـر تـا کـله حـوره ښـه ده

کـه د خپل وجـود بقا غـواړې مـلګـرو!
د ښمنـانو بـانـدې مور تـل بـوره ښه ده

د وطن عشقـه! نـشې تـه دې حيـران يم
چې خـو چنده له وراسته انګوره ښه ده

سترګې ژاړي، نه چې اوښکې يې کړي ورانه
ستـا ښکلا مې پـر زړګي انـځـوره ښه ده

**دانـش** لار د يـار په سترګو باندې ګوري
دا رڼـــا تــر بلـــه هـــره نـــــوره ښـــه ده



ستـا هـر نظـر زمـا قـاتـل، هــره ادا مــې وژنــي
غوسه مې وژني، ګيله وژني، ستا موسکا مــې وژنــي

څـه وکړم څـه، دې لېوني زړه سره څـه وکړمه ؟
مـا لـــه بـــدرنګــو لــرې ساتي پر ښکلا مې وژني

خوب مې ليدلی، خو تعبير باندې يې نه پوهېږم
رقـيب چـاره ورکـړي اشنا ته او اشنـا مې وژنــي

**دانـش** د يار سترګو تــه ګوري يـار ته داسې وايي
جانانــه! دا مې وژني ، دا مې وژني ، دا مې وژني

۹/۶/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشقه! نالوستی یم، ما ستا سیپارې نـه دي لوستې
خطاء به کېږي اشنـا مـا سیـپارې نـه دي لوستې

زه خو لا اوس شوم زده کوونـکی مـدرسه کې د عشق
ما خو د مینې له پخوا، سیپـارې نـه دي لوستې

پرېـږده چې ولـولم د سترګـو د کتـاب پاڼې دې
ډېـره موده وشوه ما دا سیـپارې نـه دي لـوستې

زه دې پـه یـو نـظـرکـتلو بـانـدې وپـوهېـدم
کور مغزه نه یم، ما بیا بیا سیپـارې نـه دي لـوستې

**دانش** ستا مینـې پـه الف او پـه ب و پـوهـوه
**دانش** د کلي لـه ملا سیپـارې نـه دي لـوستې

۱/۵/۱۳۸۶ ننګرهار



ژړل مـې یـو سـړی نـه ګیـله ډېـره ډېـره راغـله
ببګا مـې لـه زړګـي نـه ګـیله ډېـره ډېـره راغـله

بـل هـر سـړی پـه کاڼـو ولي ماتـه پـه خـندا شـي
لـه دغـه لېوني نـه ګیـلـه ډېـره ډېـره راغـله

چې زه دې مخ ته ځیر شم ، نو دا شړک شي چې را پـریوځي
جانـانـه ستا پیـکي نـه ګیله ډېـره ډېـره راغـله

چې خنـګه پـه کې دا ځـلې د ګل شونډې پرهر شوې
سرې کـال لـه پسرلي نه ګیـله ډېـره ډېـره راغـله

ګیـله لـه خپلو کیږي خو دې خپل زړه ته حیـران یم
چې خنګه یې پردي نـه ګیـله ډېـره ډېـره راغـله

زه ګل تـه لاس نږدې کړمـه، دا کلک راپـورې نښلي
**دانـشه**! لـه اغـزي نـه ګیله ډېـره ډېـره راغـله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مست لکه ملنګ راشي، والـوځي راوالـوځي
شمعې ته پتـنګ راشي، والــوځي راوالــوځي

سپین وزرونه وخنـډي، سپیـن کـوتر لـه دوړو نه
سور په وینو رنګ راشي، والــوځي راوالــوځي

سپینې هیــلۍ نشتــه دي، زاڼــو کــډه کړې ده
تور کارغه بدرنګ راشي، والــوځي راوالــوځي

ستا د ښو غشي مې زړه بانـدې حملې کــوي
دوه دوه خڼګ په خڼګ راشي، والوځي راوالوځي

زه **دانـش** چې کله یار، جوخت په غېږ کې ونیسم
بوی ترې د لونګ راشي، والــوځي راوالــوځي

۸/۶/۱۳۸۰ ننګرهار



## زه او ته

تـــه د رنګــونـــو رڼـاګــانو د ښار
زه د لــوګــو او د لمبــو د کلي
نه زما زړه ستا څراغــونــه غواړي
نه ستـا پـه زړه کې شته ارزو د کلي
پوهېـږم تا نه هېـره شوې ده اوس
(اکـو، بکـو، سرسیـندکـو) د کـلي

ستا پـه مـړوند کې بنګړي شور نه کوي
نه دې پــر غـاړه غـاړه کۍ زانــګي
ستا د ټټــر لونګیـن چــا وړی دی؟
وایه په کوم ځای دې اوربۍ زانګي؟
زمــوږ د کلي د چینــار پـه ټال کې
اوس هـم یـوه نیمـه نجلـۍ زانګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما له کبر و غرور ډک جانانه!
د ځمکې هر موجود زوال لري
دا بې ګناه زړه مې نور مه ځوروه
ازار به وکاندي وبال لري
پروردګاره! نور يې سترګې کړمه
دا ژوند خو بې حده جنجال لري

شکر دی ډېر بېوسه شوی نه يم
اوس هم دېره لرم چينار لرمه
هر يو ماښام په کې ډېوې بلېږي
زه د شهيدې اروا ښار لرمه
تاته به هم د دې سپرغۍ رسېږي
زړه په سينه انګار انګار لرمه



زما د کاڼي زړه نه کرکه کېږي
زه په سينه کې زړګی موم ساتم
جانان مې خوي د ماشومانو کوي
زه به تر څو زړه د ماشوم ساتم؟
اخر يې ستا له لاسه څښمه ګوره
زهر ساتم ځانته زقوم ساتم

زما د اوښکو دې پروا ونه کړه
ته د ژړا په ژبه نه پوهېږې
زه به نو څنګه تسلي درکړمه
چې ته زما په ژبه نه پوهېږې
پرون دې ډېرې ښې خبرې وکړې
دا دی نن بيا په ژبه نه پوهېږې

۱۳۹۰/۶/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو هېــلو پــه يــاد غلی شومه
آن له فرياد خځــه پــه لــوړه توګه

ماته دا ژونــد بلــه مانــا نــه لري
د چا له ياد خځـه پــه لـــوړه توګه

حالات مــې وژني د ارمـان نـاوکی
له يو جلاد خځـه پــه لـوړه تـوګه

د نړۍ يو ځای مې هم نه خوښيږي
جلال آبــاد خځــه پــه لوړه توګه



کله سهر شي کلـه خــړه شــې ماښــام راشــې
ژوند چې راځي نو ورسره د مرګ پيغام راشي

دلته پراته په ميخانه کې ټول په دې هيلـه دي
ساقي! که ستا له خوا پېرزو وشي او جام راشي

حيران يم که هـر څومره مې راواړول پر سر
ساقي ستا پــه جامــونــو نن خمار نه راځي

يو چـا وعده راکړې ښه پخه د سپينې خولې
**دانـشه**! وارخطـا نـه يـم تلـوار نـه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعـا

دوې سترګې، هغه سترګې
چې هينداري دي، چينې دي
دوې سترګې، هغه سترګې
چې ليدل يې راته ګران دي
دوه لاسه، هغه لاسه
چې به يې هېڅکله لمس نه کړم
څو ګوتې هغه ګوتې، چې تنکۍ دي ښايسته دي
څو ګوتې هغه ګوتې چې پيغام راته راليږي
زما د شعر ملّکې دي الهام راته راليږي
دا ياد مې دي خالقه! د جانان د وجود غړي
پر ما باندې دي ګران، لکه د ځان د وجود غړي
نو خدايه !لويه خدايه !!
ای خدايه لويه خدايه !!!
له سترګو دې ونه تښتي ، خوبـونه د جانان
له درده لرې وساتې، لاسونه د جـانــــان

۲/۱۲/۱۳۹۰ جلال اباد ننګرهار



زمـا زړه لکــه هينـــداره، پکـې ښکـــارې
مـخ را وګرځـوه يـاره! پکـې ښکـــارې

زه دې سترګو کې له خلکو څنګه پټ کړم
د جانان د عشق خُمـاره، پکـــې ښکـــارې

که په زړونو باندې لـــوبې کـول فـن وي
ګرانې! تـــه پخه فنکـاره، پکـــې ښکـــارې

ډېر که ما دی خپل زړګی اور تـــه نيـولی
لـږه ته هم قُـصور واره پکـــې ښکــــارې

له دې ژونده به **دانشه**! څه خوند واخلې
سترې، سترې له روزګاره پکـــې ښکـــارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما پر ښکلو زړه وېشه اوبـه اوبـه شو
څو چې تاته رسېده اوبـه اوبـه شو

له هر ښکلي نه مې زړه مينه غوښتله
لېونی نــه پوهېـده اوبـه اوبـه شو

تا پسې مې دا کمزوری زړه جانانـه!
په سينه کې درزېده اوبــه اوبـه شو

هغه زړه چې ما شيندلی ؤ ستا پښو تـه
بېرته نـه راټولېـده اوبــه اوبــه شو

مينان چې يو بل ويني غوښه اخلي
**دانـش** تا ته په کاته اوبـه اوبـه شو



## نا اشنا اشنا ته!!

ته ملامته نه يې، ته ملامته نه يې
ټوله ګناه زما ده
زه د وژلو يمه
په ځنځيرونو باندې، کلک د تړلو يمه
ته څوک يې؟ چيرته يې ته؟
ستا پيژندنه څه ده؟ زما ګمنامه اشنا!
ما ته د دې وړو، وړو پوښتنو ځواب به کله راکړې؟
لا دې تر اوسه په تمامه مانا نه پېژنم
خو بيا هم زه لېونی درپسې ډېر ژاړم
کله چې ته خپه شې او ستا سلام را نه شي
بيا نو ماشوم شمه زه، له حده تېر ژاړم
پوهېږم ته به مې په دې لېونتوب
کله نا کله په کړس کړس خاندې
خير دی که خاندې ګرانې ښه وخانده
زه خپه کېږمه نه
ته ملامته نه يې، ته ملامته نه يې
ټوله ګناه زما ده
زه د وژلو يمه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا ازار د چا ښېرې دي لېوني یې کړمه
له ډېره وخته راپسې دي لېوني یې کړمه

ګرانې! د مخ پر سپینه پاڼه دې د شونډو کرښې
د اور سکروټې دي، لمبې دي لېوني یې کړمه

ته لکه ستوری په اسمان زه په لمن د ځمکې
تر منځ مو ډېرې فاصلې دي لېوني یې کړمه

زما او ستا د ښکلې مینې په نصیب جانانه!
خومره بدرنګې زمانې دي، لېوني یې کړمه

**دانشه**! دلته خو د دې کلي پر هره لاره
دار دی، جلاد دی، غرغرې دي لېوني یې کړمه

۲۶/۱۰/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون



ډېره په هوس به راته نه خاندې
مړه شې، په کړس کړس به راته نه خاندې

هسې نه څه ټوکه مې پر زړه وشي
لوړ زما له وس به راته نه خاندې

هره یوه لحظه دې خندېده غواړم
ډېره موده پس به راته نه خاندې

ستا موسېده شونډو کې دې ډېر اعلی
شرنګ لکه جرس به راته نه خاندې

دا نخره دې بیا ځلې تکرار مه شه
تللو کې واپس به راته نه خاندې

پرېږده چې **دانش** خو لږه ساه واخلم
په هر یو نفس به راته نه خاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دې کړم حيران لاسونه مه وهه
بس کړه نور په ځان لاسونه مه وهه

ته خو به سپرلی راولې ګـل به شي
ما بـه کړې خزان لاسونه مه وهـه

نه دي لا ګل شوي د سينـو غـوټۍ
هسې پـه ګـريوان لاسونه مه وهـه

بيا به مې دا زړه د رغېدو نه وي
دومره په کې وران لاسونه مه وهـه

ستا د شوخو سترګو ما **دانش** سره
نه کېږي ګـوزران لاسونه مه وهــه

۱۳۷۸/۱۱/۱۷



دا جنګ پر موږ دی او که موږ جوړ کړی جنګ دی پر چا؟
دې خونړي ميدان کې څوک غليم دی، ننګ دی پر چا؟

پښتـــونــه! ځان پــه دې يـــو ټکي پوهول په کـــار دي
څوک خپل سرونه خوري، وخت ايښی دا قلنګ دی پر چا؟

نــړۍ د چا پــه مــرګ و ژوبلــې بيــا سلا کــړې ده
دغه پراخه جهان دې ورځـــو کې تنـــګ دی پـــر چـــا؟

تـــه پـــه دې خـــوښ يې تر ميدانـــه درتـــه تـــوره رسي
د دغې تورې چلول پـــه چـــا دي، شرنګ دی پـــر چـــا؟

**دانــشه**! څوک ستورو سپـوږمۍ کې د ژوند لار لټوي
په مشوانۍ کې د ليک لوست وچ شوی رنګ دی پـر چا؟

۱۳۸۹/۷/۲۹

ښتنــه پېغــله ده پر پوزه یې نتکۍ ساتــلې
زما د لاس نــښه تــر اوسه لیونۍ ساتــلې

څنګه به ساه وځي زما، بې له تا څنګه ومــرم ؟
راځه ما تا ته ده د ژوند وروستۍ سلګۍ ساتلې

تا که حیــا پاللې تا لوپټــه ښکتــه نـــه کړه
ما هم شمله تر اوسه هسکه د پګړۍ ساتــلې

چا خپله توره د غلیم په مرۍ ښخــه کــړله
چا په دې دور کې بس خپله ککرۍ ساتلې

لا مې سینه لمبو ته سپر ده، لا بې وسه نـه یم
ټوپک په لاس هم مې په غاړه ګردنۍ ساتلې

ته که **دانش** وژنې؛ نو تا تـه خپله وینه ښې
بس ستا چړې ته یې تر اوسه ده مرۍ ساتلې



د ډیوې رڼا ته

ما خـــو تر ډېره مینه ورکړه مینـه ناک نـه شو
جانـانـه زړه دې له نفرت او کینې پاک نـــه شو

ډېـره موده وشوه باغي دی خپلـه  طبعـه کوي
خدایـه! دا  زړه زمـا په لاس زما پـه واک نه شو

که ستا په څېر یې پـه ښارونو کې ژوند هم غوره کړ
ساده **دانش** بیا هم ځیرک نه شو چالاک نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې اخته د ځان په وير دی ګيله چا نه وکړم؟
**جانانه!** ستا عشق کې اسير دی ګيله چا نه وکړم؟

پرون ؤ پروت په ميخانه کې له ساقيانو سره
نن يې تسبې په لاس کې پير دی، ګيله چا نه وکړم؟

په داسې ملک کې مې د زړه له کوره غلا شوې ده
چې خپله غل په کې امير دی ګيله چا نه وکړم؟

د زمرو ځاله کې خوځېږي نن لکۍ د ګيدړ
باز د ټپوس پنجه کې ګير دی، ګيله چا نه وکړم؟

**دانشه!** څنګه به د هيلو غوټۍ ګل شي زما
خزان له ورايه راته ځير دی ګيله چا نه وکړم؟

۱۳۷۸/۱۲/۱



خوره به کړله تا راته څنګل په ډېره مينه
ما هم په خواږه خوب به پرې ځنګل په ډېره مينه

هېرېږي مې نه اوس مې هم هغه وختونه ياد شي
راوړۀ به چې مې ستا وربل ته ګل په ډېره مينه

ما پاڼو د ګلاب کې ياره ستا تصوير ليدلو
ښيښه کې د شبنم چې مې کتل په ډېره مينه

څه ښکلې ورځې شپې وې ماشومتوب ؤ لېونتوب ؤ
توتان به مې ځولۍ ته ستا څنډل په ډېره مينه

د تلو په و خت به ستا ؤ، عجيبه اظهار د مينې
**دانش** به دې تندي نه کړلو ښکل په ډېره مينه

۱۳۸۹/۱۰/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه یمه ایره، لمبه مې ځان اخیستې نه ده لا
کړیکه مې له درد و له خفګان اخیستې نه ده لا

ما خپل ارمانونه په زړګي کې زندۍ کړي دي
ساه رانــه تر اوسه یو ارمان اخیستې نه ده لا

هغه چې حالاتو راته یو ځل تار تار کړی دی
بیا تنۍ زما هـغـه ګـرېوان اخیستې نه ده لا

ما نــه یې له شونډو خنداګانې شوکولې دي
اوښکه مې له سترګو نه جانان اخیستې نه ده لا

لاړلــه **دانـشه**! د ژونـد ډېره برخه تېره شوه
ګټه تربنـه تـــا د یـو غیران اخیستې نه ده لا

۱۳۹۸/۱۱/۵



چې مینه نه کړو، محبت نه کوو څـه بـه کوو ؟
لـه دې حــالاتو بغـاوت نـه کــوو څـه به کوو ؟

له لاس یې نه شو رانیــولی، د پښتــو وطن دی
ښکلو ته سترګو کې چې ست نه کوو څه به کوو ؟

موږ بــه تر څو کینه پالــو، د خپلو زړونو په کور
چې نفرتونو نه نفرت نــه کـــوو څه بـه کـــوو ؟

تمه د ګل لــرو، نـــو ګـــل تـــه رسېـــدو لپاره
چې د اغزیو نزدېکت نه کوو څه بـــه کـــوو ؟

بــلا غمــونه دي پر زړه شول مېلمانه **دانـشـه**!
اوس یې چې څه ناخـه عزت نه کوو څه به کوو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه ګوزاره درسره ګرانه ډېر دې ستړی کړمه
يقين پر خدای وکه جانانه ډېر دې ستړی کړمه

کله دې سره راته تار تار کړي، کله سپين خېرې کړي
نور دې ګنډی نه شم ګرېوانه ډېر دې ستړی کړمه

وخته! په دومره کړکېچونو کې دې ونغاړلم
چې ځان لټوم ورک يم له ځانه ډېر دې ستړی کړمه

پروردګاره! د رحمت باران دې وه وروه
د سرو سکروټو له بارانه ډېر دې ستړی کړمه

نېټه پوره شوه تا سينې پورې ونه نيولم
خفه اټک يمه افغانه! ډېر دې ستړی کړمه

ما **دانش** ډېره هڅه وکړه خو ته قتل شولې
پوره مې نه کړلې ارمانه ډېر دې ستړی کړمه

۱/۲/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون



خير دی که ته ګل او زه اغزيو کې حساب شمه
دومره خو به وشي چې ژونديو کې حساب شمه

راشه يوه تنې مې په ګرېوان کې ده دا هم واخله
پرېږده له دې وروسته لېونيو کې حساب شمه

چا چې يم وژلی اوس هغه ته لاس په نام يمه
نه به د پګړۍ شم، نه پګړيو کې حساب شمه

نه مې مينه راوړه نه پيغام د ازادۍ لرم
زه سپرلی به څنګه په سپرليو کې حساب شمه؟

خاورو کې پرتې دي خو چې خاورو خاورې نه کړلې
زه **دانش** دې هغو ککريو کې حساب شمه

۹/۱/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون

نه رپ وهي، نه خوري زما سترګې دي
تا ته چې درګوري زما سترګې دي

نه پوهېږم دا پوښتنه حل نه شوه
ولې ستا په لوري زما سترګې دي ؟
هېڅ مې نظر ستا له مخه نه اوړي
ستا د قامت سيوري زما سترګې دي
ته لکه سپوږمۍ د کهکشان غېږ کې
ستا چاپېره ستوري زما سترګې دي
ستا سترګو ته کله ځير کتلی شي
وه ګرانه کمزورې زما سترګې دي
چا مې غزل ولوسته او ويې ويل
ستا د غزل توري زما سترګې دي

زه **دانش** به چا ته ګرېوان څېرې کړم
اوښکې چې ترې اوري زما سترګې دي



شهرت دې په ښايست کې دلته ښه وتلی دی
د چا درپسې سترګې د چا زړه وتلی دی

ای يو نظر خو وګوره والله ستا د نظر دی
دا غشی چې زما له زړه تېره وتلی دی

چې ستا حسن يې وليدو واعظ زموږ د کلي
موده وشوه له لمونځ او اوداسه وتلی دی

ناصح دلته له چانه د ګودر پوښتنه وکړه
زاهد هم ورپسې په لمر خاته وتلی دی

له کار خو هر سړی وځي د مينې له سببه
**دانش** په کې بېخي له ژوندانه وتلی دی

٥/٢/١٣٨١ جلال اباد ننکرهار



(c) ketabton.com: The Digital Library

**که مې زړه هر څومره سترې شي مـور مـړی**
**بیـا هم ستـا غمونـه وړلی شي مـوړ مـړی**

**پـه ټپـي وجود مـــې نــوی زخـــم مه ږده**
**خیر دی زوړ پرهر زغملـی شي مـور مـړی**

**مرګی حق دی هر ځای یو نیم انسان ومري**
**خو زمـوږه تمــام کلی شي مـــور مــــړی**

**غم دا نه دی چې یو کس درنـه مرګ وخـــوري**
**غم خو دا دی چې مور مـړی شي مـــور مړی**

**پـــه دې خـــاوره غیـــر تر ډېـره پاتې نه دی**
**بس دا یو نیـــم پکې پړی شي مــــور مــړی**



**دلتـــــه نشتـــه د ژونـــدیـــو قـــدر نـشته**
**هر چې ومري نو ښاغلی شي مـور مــــړی**

**دانـش** **تـــا ته کوم سوغـات دروړلی نشي**
**خـــو زړه ستا ښو ته شیندلی شي مور مړی**

۰۹/۰۳/۱۳۹۰ جلال اباد ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په کار وې د اشنا سترګې
واوختې ماته د دونیا سترګې

پر زړه مې ځای د زخم پاتې نه شو
نښه رسا ولې دا ستا سترګې

چې بې له تا بل ته غړېږي یاره
خدای دې ړندې کړي دا زما سترګې

ما نه دې عقل نادرکه کړلو
تا چې را واړولې بیا سترګې

ډېر به زما غوندې ایره کړي
څو چې وي تا پورې همدا سترګې

**دانش** چې لیکي سترګې سترګې غزل
پر زړه یې ګرځي خامخا سترګې
۱۳۷۸/۹/۱۸



خاصیت د ګل لري، بهار پورې تړلی یې ته
لکه سحر نسیم، سهار پورې تړلی یې ته

د جانان یاده له لمر ځرک سره پر زړه دېره شې
بیا تر ماښامه مې روزګار پورې تړلی یې ته

وخت به زموږ د تړون کومه غوټه ژر پرانېزي
ما خو د زړه په هر یو تار پورې تړلی یې ته

د یار د لاس نښې دسماله! یار راځي او که نه؟
زما خو شناختې د مزار پورې تړلی یې ته

**دانشه**! بس که نورې لارې د ګودر مه څاره
چا به د کلي دنګ چینار پورې تړلی یې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولی درته ما دی یاره خپله خپله زړه
په غشو د بڼو باندې مې وله وله زړه

له ښکلو نه ما ډېر په هنر وساته زړګی
خو ستا سترګو مې واړوه په بله بله زړه

له هر څه به شي صبر خو یوه خبره واوره
له تا د صبرېدلو نه دی ګله ګله زړه

پښتون شه په پښتو راسره ټینګه وعده وکړه
په اور باندې سېزې مې یاره څله څله زړه

شراب مې څښلي نه دي زه **دانش** شرابي نه یم
خو ستا شونډو ته کېږي زما کله کله زړه

۱/۱/۱۳۸۰ جلال اباد ننګرهار



ستا سترګې چې شي پناه له سترګو مې
ورکه شي اشنا رڼا له سترګو مې

زه که یې هرڅو له زړګي وباسم
نه وځي دا ستا ښکلاله سترګو مې
ستا سترګې مې شولې سترګو سترګو ته
ځکه اوښکې تلې اشنا له سترګو مې
خیر که مې له سترګو اوښکې پرېوتې
خدای دې نه کړي تا خطا له سترګو مې
زړه راته د عشق په جرم مه نیسه
شوې یاره دا ګناه له سترګو مې

نېغ راته **دانشه**! ځکه نه ګوري
یار ډېره کوي حیا له سترګو مې

۱۳۷۹/۱۱/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د کـــــلي یـا د ښـار دي
د دې خـــاورې خلك خـــوار دي

دلتــه تور کارغـــان الـــوُت کړي
ګــــڼ د زاڼـــو پـــه کتـــار دي

څوك له لوږې نه تیندك خوري
څوك ټالـــۍ وهـــي خـمار دي

دا مـــــتل غـلت ثـابـت شـــو
شـپه تیـاره مـــــنې په شمار دي

**دانـش** لاس پـــه زړګي کـېښود
ستـــا بـــاڼـــــه ولاړ کتـــار دي




مـا زړه درتـه درکړی، زړه په زړه کې راته را
احساس د محـبت دې پـه کاتـه کې راته را

دانــش شبګیر وهلی یم ، که سترګه مې لږ ورشي
د سر لپاره ځـــای پـه زنـګـانه کې راتـــه را

تر ډېـره درتـه ناست وومـه، تـر ډېره ته رانغلې
وعده شـوه درنه ګوندې خپله هېـره ته رانغلې

سهـار ؤ، مـازیـګر شو، لمر د غرونو شاته پرېوت
مـاښـام کـه رانـه تـور ځـادر چاپېره ته رانغلې

جانـــان مې مخامخ نـــاست ؤ، رڼا ته د ډیوې
زه هم ورسـره کېنـــاستـمه، خواتـه د ډیوې

ستا سترګو کې دلبره، بېګـاه ډېر ؤ رنګ و نور
رڼـــا يې کړلـــه تتـــه ښکـــاره ماتـــه د ډیوې

حیران ؤ ، مونږه دواړه تېره شپه چې تـــه رانـغلې
ډېـــوه زمـا ژړا تـــــه، زه ژړا تـــه د ډیـــوې

دا خـلك پر قبـرونـو شمـعـې ولې بـلـوي؟
ملـګرو! خیر رسیــږي هلـــته چاتـه د ډیوې

**دانـشه**! ما به زړه هغې بـه ځان راسره وخوړ
ايرې بـــه مې راټــولې کړې سبا ته د ډیـوې

۱۳۹۰/۷/۲۳



باڼـــه دې ښکتـه ګوري، پـــه ښـــو کې حيا راغله
لېمو دې اوښکې ډنډ کړې، په لېمو کې حيا راغله
اه! څومـره ساده ګي ده یاره ستا حُسن و جمال کې
**دانـش** تـــه هم ستا سترګو تـه کتو کې حيا راغله

تـر ډېـره وخته مې ستا توره په سیـنه پـاتې وه
تـــا خـــو وژلی وم، زمـا اب و دانـه پـاتې وه
زه د ملا په اذان پاڅېـدمه خدای مې یـاد کړ
هـغـه د لمـر تر راخـتو پورې ويـده پـــاتې وه

که ته اور شي که لمبه درغاړې وځم
زه ویریږم نه، راځه درغاړې وځم

تا ته نه درځي هیڅ چل د پخلاینې
هر ځل زه له تا سره درغاړې وځم

زما سترګو کې دې خپل تصویر لیدی شې
بختورې! ایینه درغاړې وځم

زنده ګۍ نه مې زړه تور دی مرګه راشه
نن په خپله اراده درغاړې وځم

ساقي! تا نه چا لپاره غاړه اخلم
پیمانه په پیمانه درغاړي وځم

**دانش** چا سره دردونه خپل شریک کړم
بله نه لرم چاره درغاړي وځم
۱۳۹۰/۵/۲۴



# ماشومانو!!!

ای کوچنیو ماشومانو، ګلالیو ماشومانو!
شور په هره لاره جوړ کړئ، د شپیلیو ماشومانو!
خړو خاورو کې لوغړیږئ، لیونیو ماشومانو!
واخلئ ښه خوندونه واخلئ له مستیو ماشومانو!

هر څه ځان لپاره غواړئ په فریاد او واویلا شئ
مرور شئ په ژړا شئ، شیبه وروسته بیا پخلا شئ

څومره ښکلې زنده ګي ده د شاهانو بادشاهي ده
نه د چا درسره کار شته نه مو چا سره سیالي ده
نیا مو اخلي بلاګانې مور مو هم درنه راضي ده
ستاسو هرې یوې نخرې ته دونیا ټوله سلامي ده

پام چې داسې سوال ونه کړئ، خدایه! ژر موږه لویان کړې
لکه څنګ چې مو مشران دي، موږه هم د دوی په شان کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې نه چې بیا لویان شئ او په خپل سوال پښېمان شئ
نه به خپله د خپل ځان شئ نه د دې فاني جهان شئ
په صورت بـه انسانـان يئ، په خصلت لکه ماران شئ
بیا به بېرته کوچني نه شئ، پـه يـو دوه کې به حیران شئ

ماشومان ماشومان ښه يئ، ماشومتوب کې بادشاهي ده
لوی چې نـه شئ، هوښيار نه شئ، لېونتوب کې پادشاهي ده

يـو وخت زه هم يو ماشوم وم، کور و کلي ته معلوم وم
لکه اوس چې يمـه داسې نه حریص ومه نه شوم وم
زړه مې نـه و لـکه کـاڼی، په خصـلت لکه د موم وم
خوږ تر شاتو وم هر چا تـه، زهر نـه وم نـه زقوم وم

له همزولو سره ما بـه جوړ کـورونـه کړل د خـاورو
شېبه وروسته بـه مو بیا ړنګ محلونـه کړل د خاورو



د خپـل کـلي پـه کوڅو کې لوبـېدو به په بـاغـکو
يا بـه نـجونـو سره ګـډ شو پـه خوښيـو د نـانځـکو
ځغلېـدو به شور بـــه جـوړ و، پښې يبلې په تـرپـکو
کلـــه کـــله مـو کـولــه ((اکو بکو سرسینـــدکو))

پټ پټـونی مې يـادېږي، اه څه ښکلې ورځې شپې وې
د دېـوانـو او پيـریانـو کیسې هم ډېرې خوږې وې

زما ځانـتـه يـو جهـان ؤ، ډېـر ښايستـه هـغـه زمان ؤ
هېڅ مې غم انديښنه نه وه، نه مې زړه کې څه خفګان ؤ
بادشـاهي وه شهـزاده وم، زمـا راج زمـا دوران ؤ
زړه مــې داسې زخمي نـه ؤ نـه مې تار تار دا ګرېوان ؤ

دا چې ستونی مې راډک شو ماشومتوب مې راپه زړه شو
ها د خړو خاورو لوبې، لېونتوب مې راپه زړه شو

خو چې کله را زلمی شوم، ماشومتوب لاړه سړی شوم
خپلې سترګې مې کړې خلاصې په شناخت د ځان او خدای شوم
چې د چا د زړه ټکور وم، هغو سترګو ته اغزی شوم
زه ماشوم لېونی نـه وم، سړیتـوب کې لېـونی شـوم

دونـیا ډکـه وه لـه غمـه، زما پـام ورتـه هېڅ نه ؤ
هر ساعت د غـم اغـاز و، خو انجـام ورتـه هېڅ نه ؤ

خدای شته ډېر زیات پښېمان یم، کوچینوالي په ارمان یم
د غم پېټـي ډېـر درانه دي، ستړی ستړی یم ستومان یم
په کوم لـور زمـا سفر دی، دا پـه کومه لار روان یم؟
نه خو خپله د خپل ځان شوم نه په برخه د جانان یم

کاش چې بېرتـه بـیا ماشـوم شم لـه جهانـه نا خبره
لـه خپـل ځانـه ناخبـره لـه جانـانـه نـاخبره



اوس په برخه اندېښنې دي، د امید ډېـوې مې مړې دي
هر سړی رانـه خفـه دی، د هـر چا رانـه ګیلي دي
چا ته زه یم ملامتـه، د چـا سـترګې ماتـه مـړې دي
د **دانـش** دا زنـده ګي ده، دا د سترې ژونـد کیسې دي

لویـه خدایه! ماشومتوب را، بېـرته هغه لېونتـوب را
چې ویده پـه الاهو شـــم،خـوبږې مـور په غېږ کې خوب را

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلار

یو ماشوم خپلې مور ته داسې ویل:
((د کلي خلک راته بې پلاره وايي))

مور یې په خپله غېږ کې ونغاړلو.
- زویه! رښتیا ده ستا خو پلار نشته.
- مورې! نو پلار مې څه شو؟
- پلار خو دې خدای واخیسته.

ماشوم رنې رنې د مور سترګو ته
یوه شیبه په چُوپه خوله وکتل
بیا یې په کراره وویل
((بېرته یې نه را کوي؟؟؟))



رپیـږي زړه مې، ستـا د جـدایی لــه زوره نه دی
تــر اوسه لا د دارنــګه یــاری لــه زوره نه دی

پیـزوان لــه زوره نه دی، د نتکی له زوره نه دی
ځنګیـږي پــرې خو زلفو د ټالی له زوره نه دی

جانـانـه! چې پـه ټوکه کې ترې هم مرور نه شې
ماشوم زړه مې د دا ډول شوخی له زوره نه دی

زاهد به توبه کړې وي، خـو دې کې هم شک نشته
اخر به ترینه ماته شي، خـولګی لــه زوره نه دی

له چا مې سترګه نه سوځي، په هر سړي ډاډه ځم
میـرات زړه مې د دې یوې نجلی له زوره نه دی

تا ډک جامـونه ورکړه، ساقـي ستا دې کور ودان وي
**دانـش** ګـوره د دومره بېخـودی له زوره نه دی

کـلی دې اور واخلي،کـوڅې لمبـه لمبـه شه
بغـیر له تـا مې د ژونـد، شيـبې لمبـه لمبـه شه

چې سترګو سترګو ته مې پکې ستا سترګې نه شي
زمـا د ژونـد جانـــانــه لمحې لمبه لمبـه شه

پــام کوه مړه چې نـــه شې، راسره سمـه ژاړه
زه درتـــه ناست يمـه لا، ډيـوې لمبه لمبـه شه

د يـار د شونـډو نـشـه، چې په کې نه وي پرته
ستا د شـــرابـو ساقي! پيـالې لمبـه لمبـه شـه

**دانـش** خو ستـا نـازونــه پر ځـان منلي اشنا
د دغـه نـورو ښکلـو نخـرې لمبـه لمبـــه شـه



زه دې سترې کړم ستـومانه خدای دې مړ که
چې زما نه شوې جانانه! خدای دې مړه که

چې زمـــا مخکې دې بـــل لـــه لاسه نيسي
دا خبــره بـــه شي ګرانــه خدای دې مړ که

اوس مې وس نـــشته اشنـــا خو ورځ د حشر
تا بـــه نـــيسم له ګـريـوانه خدای دې مړ که

د ښکـلا بيـــړۍ دې ډوبـه پـــه دريـاب شه
زړه دې وچوه له خفګانه خدای دې مـــړ که

ای نـاتـــرسه! هيـڅ دې تـرس پـه ما رانغی
بې وفا مغرور پـه ځانـــه! خدای دې مړ که

ما **دانش** کـــه درتـــه ډيـرې ښيرې وکړې
خو پـرې نـــه يم پښيـمانه خدای دې مړ که
۱۳۸۳/۱۲/۲۰




(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا پــه محبـت مې ایمان ډېر ښه دی
هر غم تــه نیولی مې ځان ډېر ښه دی

ستا وعــدې منمه چې رښتیـنې دي
بد نـه دی په تا مې ګومان ډېر ښه دی

ورکـه دې شي دا دونیا دې  ورکه شي
ځـار شم ترېنـه هغه جهان ډېر ښه دی

ستا له غمـه ځاځې  چې له سترګو مې
دا د رڼـــو اوښکو بــاران ډېـر ښه دی

زه د وخت خپــړو ســوځولی یــم
ما سره قــسم دی جــانـان ډېر ښه دی

پــام کــوه **دانـشه**! ویـې نـــه ګنډې
ډېر ښه دی شکېدلی ګرېوان ډېر ښه دی
۱۳۸۳/۱۲/۷



زه خو نــور څـه نـــه لرم دوعا به درته ولېــږم
اوښکې به در ولېــږم، ژړا بـــه درتـــه ولېــږم

ښکتــه لــه ښـــو څخه د سوال په لپو پرېوتې
ترمې تـرمې اوښکې مې همدا به درته ولېــږم

نــور که مې هېڅ هم په دې ړنګ کلي کې ونه موندل
میــنــه به درولېــږم حیـــا بـــه درته ولېــږم

ټول بدن مې مه سېځه د شونډو په اورونو دې
شتــه راســره زړه لـرمه دا بـــه درتــه ولـیږم

کله چې راځې نو زما قـــبر تـــه جنـډه راوړه
ګــرانې! د **دانـش** دا تمـنـــا به درته ولېـــږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـا پسې بیـا وران دی، زړګی زما
خـومــره پرېــشان دی، زړګی زما

نښې د سپــرلي پــه کې لیدی نشم
ټول عمر خزان دی، زړګی ز مــا

نـشته سیـم و زر ورانو جونګړو کې
ستا په مینه خـــان دی، زړګی زمــا

هر چا ته یې ځان منګول کې ورکړلو
ځکـــه خـو نـادان دی، زړګی زمـا

خپل د کور درشل د اټک پل ګـڼي
ضـد کـوي افـغان دی، زړګی زمـا

۱۳۷۸/۱۱/۲۵



## اختره !

تر جانانه تللی نه یمه اختره
لا تر اوسه زه او زړه یمه اختره

تیر کال هم وومه یو اځې که ستا یاد شي ؟
سر هم بې ځالې مرغه یمه اختره

بیا دې یو بلا یادونه را په زړه کړل
بیا اوبه اوبه یمه اختره

کوچنی اختر ۱۳۹۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه له پخوا نه تا شیندلي څه دستي شیندلي
پر هره لاره دي د ژوند راته اغزي شیندلي

دلته دې غرونو ته مورې تل د وینو رنګ ورکړی
کله نا کله که ګلونه پسرلي شیندلي

ستا پر ښکلا به د بدرنګو نظر نه پرېوځي
پر هر قدم مې درته یاره سپېلني شیندلي

ښکاري چې بیا کوم یو وحشي پر کلي برید کړی دی
چېرته ریښې ریښې څادر چېرته بنګړي شیندلي

اوس خو مورې دلته خپل سرونه هم قلم قلم کړل
که مو پخوا په کې کېږۍ د پرنګي شیندلي

ناترسه یاره قدمونه لږ په پام اخله
**دانش** ټوټې درته پر لاره د زړګي شیندلي
۱۳۸۴/۱۰/۸



زه د هر ملګري د هر یار زړه پسې ګرځمه
ستوری یم د ژوند د دې مدار زړه پسې ګرځمه

خوږه یاره! ما دې له کاروان سره ملګری کړه
زه هم ستا په څېر انګار انګار زړه پسې ګرځمه

تاسو به ملګرو له سپرلي نه د ګل تمه کړئ
زه د ګل د شونډو د پرهار زړه پسې ګرځمه

شتون زما د شته وجود په شتون کې د ملګرو دی
زړونه بلا ډېر شته خو د کار زړه پسې ګرځمه

صبر شه جانانه! زما توري تا اوس نه یادئ
دې ورځو کې زه د خپل اختیار[1] زړه پسې ګرځمه

۱: هجرت الله اختیار زما لیکوال او شاعر ملګری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه غوټۍ چې شي مُوسکۍ سپرلي ته غاړه و رکړي
داسې مې ستا هره خندا زړګي تـه غاړه ورکړي

د ګل پــه ښاخ کې د ګل پـاڼـو ښکلولو په نیت
کله نـا کله بـوراګان اغـزي تــه غــاړه ورکړي

دې زمانه کې معشوقې ټولې د ګل خویندې دي
چې صنوبر پـرېږدي او تور زنګي ته غاړه ورکړي

جانـانـه! چېرتـه او تـر کـومـه به یې وساتو ترې
زموږ دا خوږ ژوند به اخر مرګي ته غـاړه ورکړي

د **دانــش** سترګو کې څپه بیا د مستۍ خوره ده
لکه ناڅاپــه چې دلبــر سړي تــه غــاړه ورکړي

۹/۱۰/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون



ښخ شوی پــر سینه مې خنجر ستا له لاسه دی
هر داغ زما پـر زړه، هـر پر هر ستا له لاسه دی

په دې ګناه خو ګرانه زه بـل څوک نشم نیولی
پر مـا دا نـړېدلی کمر ستـا لــه لاســه دی

چې زه پـرې نازېدم ما له نړۍ سره سیالي کړه
مات شوی مـې اوس هغه وزر ستا له لاسه دی

ګیله زما لــه تــا ده، نــه له غیـر و لـه غمازه
پېښ شوی راته هر ځل خطر ستا لـه لاسه دی

**دانـش** چې په دې ټول کلي کې تاته ګوته نیسي
ګرېوان یې خیـرې شوی اکثر ستا له لاسه دی

۱۰/۲/۱۳۸۵ ننګرهار پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا خو انځور زما په سترګو کې دی
لکه یو نـــور زمـا په سترګو کې دی

یـــو څه ستـــا حسن پسخونې کوي
یو څـه قصور زما په سترګو کې دی

ګرانې! ستا مـخ ته مې نن ډېر کتلي
ځکـه سرور زمـا پـه سترګو کې دی

جانـانـه! تـا نـــه شکایـــت تـر اوسه
لکه رنځـور زمـــا په سترګو کې دی

زړه مې زخمي دی، دا چې نه ژاړمه
دا خو غـرور زمـا په سترګو کې دی

**دانـشـه**! هـر ښکلـی د دغـه کلي
شته دی، ضرور زما په سترګو کې دی

۵/۷/۱۳۸۵ ننګرهار پوهنتون



لـه ماښـامــه تـر سهـاره خلک تښتــي
هم لــه کلي هم لــه ښاره خلک تښتــي

خـدایـه! بیـا مې څـه افت په وطن راغی
بیـا له کوم یـــوه ښامـــاره خلک تښتــي

چا تـرې ټولې ځانګې پرې کړې لغړ ښکاري
د بـر کلي لــــه چینـــاره خلک تښتــي

زړونـــه مات دي مستي نـشته په زلمـو کې
لــــه ټپـــو د یکـــه زاره خلک تښتــي

په سرو سترګـــو لــــه اټــکه اوړي ژاړي
له کـــابل او ننګـــرهـاره خلک تښتـــي

ستا **دانـش** یو ازې ستا کوڅو ته ناست دی
ای زمـا د میـــنې یـــاره خـــلک تښتــي

۱۳۸۰/۶/۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جنګه سترې یو پـــه جنګ کې ګوزاره نه کېږي
ملګرو نور د تـــورو شرنګ کې ګوزاره نه کېږي

زمـوږ د هر یـو جنګ انجام دی د بل نوی اغاز
بس دی د سرو وینو پـه رنګ کې ګوزاره نه کېږي

د نفـاق اور مـو تـر کـاله او تـر بستـره راغـــی
ښځې خاوند پـه یو پالنګ کې ګوزاره نه کېږي

مـوږ عادت شوي یـو ټـــوپکو او کوتکـــو سره
اوس مو سُرود او په اهنګ کې ګوزاره نه کېږي

ناست دی لـه تـا سره خو لار د رقیبـــانو څاري
**دانـــشه**! پاڅه د یار څنګ کې ګوزاره نه کېږي



مـــا ستا د یـــادونو د کاروان لاره نیـــولې ده
اوښکو مې له سترګو د ګرېوان لاره نیولې ده

څنګه به اټک ته د زخمي زړګي حال نه وایم
چا مې په تورخم کې د جانـان لاره نیولې ده

لرې کړه جامونه ساقي زهر دي شي نه یې څښم
مـــا پـــه محبت کې د ایمان لاره نیولې ده

خدایه! تـه مې ښکلې ګل اندامه ترېنه وساتې
چېرته ورته بیا دیـو تُـــرابـان لاره نیـولې ده

ډېره مې ژړا وکړه خو چا جانان خبر نه کړ
اوس نو ما **دانـش** د یه قربان لاره نیولې ده

۱۳۸۰/۶/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه څوک ده؟

ښځه چې مور وي، نــو ښکــاره ده چې جنــت ده ښځه
ښځــه چــې لــور شي، نو وريـږي دې رحمت ده ښځه

ښځه چې خور وي، نو نعمت دی ورور بې خوره مه شه
ښځـــه رونــق د زنده ګــۍ ده، او زينــت ده ښځـــه

ښځـــه مـــلاله ده، نـــازو ده، ناهيـــده ده د وخت
ښځـــه ډګر د حمـــاســـو ده او عظـــمت ده ښځـــه

د ژونـد پايښت، د ژونـــد بقا، د انسانيـــت فـــلسفـــه
پـــه دې نـــړۍ کې ستره بېـــلګه د فـــطرت ده ښځـــه

ښځـــه هستي، ښځـــه ښکلا ده، د تـهذيب نـــښه ده
**دانـــشه**! تـــولـــه مينـــه مينـــه ده الفت ده ښځـــه

۱۹/۱۲/۱۳۸۸ د ښځو نړيوالې ورځې په وياړ



د خپل وجـود قـدو قامـت سره روان نـــه شومه
زه د حالاتو نـــزاکت سره روان نه شومه

دا چې تينـــدک خورمـــه پر لار او تاتـــه نه رسېږم
ستا په طرف استقـــامت ســره روان نه شومـــه

يـــو څـــه رقيبان ډېر بد دي، يو څـه راسره ښه دي
د بعضو خو نـــه بـدې شم او نـــه راسره ښـــه دي

دوستـــان هم کلـــه، کلـــه کولـوي راپسې کانـې
چې کلـــه مخامخ شي، نـــو خواږه راسره ښه دي

بې ستا له درد و غمه به مې زړه ګوره پړک وچوي
غمـونـــه دې پـر زړه بانـــدې پراته راسره ښه دي

# د شکر ښاپيرۍ

کله خفــه شي رانه لاړه شي د شعر ښاپېرۍ
کله نــاڅاپه راتر غـــاړه شي د شعر ښاپېرۍ

کله يوه هم نــه وي کله کله غبـرګې راشي
مينه احساس او ښکلا واړه شي د شعر ښاپېرۍ

کله حالات شي راتـه تــوري کلـه عشق د جانان
**دانـشـه**! کله کله دواړه شي د شعر ښاپېـرۍ



هغــه زما بــه چې پــرې مينــه راتـــله
هغــه انـــسان لــه کـــلي کـډه وکـــړه
اوس بـــه پـــه چا سترګې خوږې شي زمـــا
لاړه جـــانـــــان لــه کـلي کـډهٔ وکـــړه

خدايـه! اوس ستـــا په دغه لوی جهان کې
مـــا تـــــه دا ځان ولې يـــوازې ښکـــاري؟
پـــر هـــره پـــاڼــــه مـــې د زړه د کــــتاب
نــــوم د جانـــان ولې يـــوازې ښکـــاري؟

ولې دا نـــور ښکـــلي يې نــــه خوښېږي
ولې مـې زړه تــصويــر د چا نــــه ســاتي
څوک چې يې خوښ دی هغه بيا نه راځي
نو دا بــه څـهٔ تـصوير د چا نــه ســاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې له سترګو نه مې اوښکې څاڅي؟
ولې دا زړه رانه جانان غواړي؟
چې زه يې په نيمه لاره پرېښودمه
دا رانه بيا هغه انسان غواړي

له جانان هېر يمه پوهېږم په دې
جانان عادت د هېرولو درلود
زه يې والله که پر زړه وګرځمه
يو يې صفت د هېرولو درلود

خو چې زما له زړه به څنګه وځي؟
دا سوال له ما سره حل شوی نه دی
نه ترېنه هېر دی نه به هېر شي جانان
**دانش** هغه دی بدل شوی نه دی



ګرانې چې يو د بل ليدو ته له مرګي پاتې شو
ساه به ساتو، ساه خو به اخلو چې ژوندي پاتې شو

که رښتيا مينه لېونتوب وي، مينان لېوني
زړه خو مې غواړي چې همداسې لېوني پاتې شو

هجره! که ستا ترخې شپې مو ترې مرګي ورسي
نور به دې خومره پوره وړي او باقي پاتې شو

اورونه وشينده، لمبې دې له رخسار پورته کړه
موږ پتنګان يوو، موږ عادت يوو، که ستي پاتې شو

په صبر ونه شوه، **دانشه**! پيمانو ته لاس کړه
دا ځل به هم ګوره سخا نه د ساقي پاتې شو

کله مې زړه کله بانېه کله لېمه شي ښکلې
کله دا وايم له يوې مخې دې مړه شي ښکلي

کله خواږه لکه شربت شي مينه مينه شي ټول
کله سړی حلالوي چاړه چاړه شي ښکلي

خوي د هندوانو دی په کې خو زه حيران يمه چې
دا کله کله نو بيا څنګه پُښتانه شي ښکلي

موږ جل وهلي به لا نور له تندې مړه شو پسې
که د ونبو غوندې په هر ځای کې راشنه شي ښکلي

زړګی درزېږي ټول بدن ورته ميږي ميږي شي
**دانشه**! چا سره چې کله خوله په خوله شي ښکلي

۱۳۸۰/۶/۱۸



زمانې سترې نه شوې، سترې دې کړم
په وير اخته په غم لړلی، دې کړم

وختـه! مـا چاتـه غاړه کېښوده
خو تاته پاتې راغلم غلی دې کړم

نور مې ازميښت د حوصلې مه اخله
مانه دې يار واخيست نيمګړی دې کړم

خومره چې تا په اور کې وسېزلم
هغومره لاپسې پياوړی دې کړم

په ژوند زما درسره قدر نه ؤ
**دانش** چې مړ شوم نو ښاغلی دې کړم

۲۲/۷/۱۳۸۴ ننګرهار پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبـو يمـه اخيستی، خـــو څوک لاس نـــه راکوي
نـاځوانــه ده دونيـــا، د ژونـد احساس نـــه راکوي

ستا مينه تــاوه وي رانــه هـر ځل د غــم څــادر
جانـــانـــه! د خوښۍ راتـــه لبـاس نـــه راکوي

عجيبـــه ده، په عشق کې شوم له عقل و فکره خلاص
سنَد راتـــه بـــيا هم څوک د افـــلاس نـــه راکوي

زه خـــپلـــه سپېڅلتيـــا د محبت تـــر پايـــه ساتم
شيطان لعين دې ډېـر پـــه کې وسواس نـــه راکوي

احساس د محبت دې خداى تر مرګه ما **دانش** ته
بې ستا نـــه پـــه احـــد من الـــناس نـــه راکوي



# د زړه خبــرې

بېګاه مې ستا تصوير ته يو بلا خبرې وکړې
ګيله، ګيله ووم ورتـــه
زړګی مې ښه را سپک کړ
تصـــويـــر دې غلی ؤ
غـــوږ ،غـــوږ ؤ راتـــه
نه يې خبره راسره کـــړه غبرګـــه
او نه يې ستا په شان ، ناندرۍ راسره ووهلې
ستا نه مې ستا تصوير ډېر زيات خوښ شو
غواړم چې بيا ورته د زړه خبرې ټولې وکړم!!!!!

۱۳۹۰/۱۰/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګولۍ ګولۍ سترګې دې زړه وژني د زړه قاتله!
چې انسان وژنې نو انسان به درته څوک ووايي؟

زېړ مازيګر دی ياره بس دی ښېرې مه کړه ورته
که **دانش** مړ شي نو جانان به درته څوک ووايي؟

چې زه وايمه مين يم په تا، دی ورته حيران شي
مسکی د ښو لاندې شي، سرې ورته حيران شي

نه هو راته کوي، نه يې په نه باندې پوهېږم
نو ځکه دا زما ماشوم زړګی ورته حيران شي

دا بې انتها مينه او دا ډيرې فاصلې
**دانش** هم خپله هرځلې په خدای ورته حيران شي



تا به له هر توپاني باد ساتم
جانانه! ډېر به دې په داد ساتم

ګرانې! زه ستا هره يوه خبره
زړه کې په نوم باندې د ياد ساتم

ماته همداسې راکوه دردونه
د زړګي کور به پرې اباد ساتم

درد به لرم خو څوک مې آه نه اوري
په زړه او ستوني که فرياد ساتم

**دانشه**! زه دې روغ له درده نه شم
خو نازولی يار به ښاد ساتم

۱۸/۱۲/۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا تصـور مې څـوروي تــه مې له خياله نه ځـې
زما د ژوند د لېونۍ نغــمې لــه تـالــه نــه ځـې

ماضي خـوږه وه، ژونــده تا ترې منډه واخيستله
حال چې په غم لړلې شپې دي؛ نو له حاله نه ځې

تا خو به ويل چې مونږيو دواړه لکه نوك او ورۍ
جانانـه! نــه شې پښېمــانــه اوس به شا له نه ځې

نظــره! دا خو د جـانــان له مخــه نـه شو طواف
چې د تندي له خال د زنې تر شين خالــه نـه ځې

پــه ميخانـه کې خلك غــم غلطـوي **دانـشـه**!
تــه لـه سببــه د ګنـاه او لـه وبــالــه نـه ځـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دانش او د ډیوې رڼا

ځوان ریالیست، غزلبول شاعر او لیکوال محمد نادر دانش ناصري د بهرام خان ناصري ځوی، د دلاور خان ناصري لمسی په ۱۳۶۳ ل کال د ننګرهار ولایت کوز کنړ ولسوالۍ ملکزیي کلي په یوه دینداره او پښتنه کورنۍ کې سترګې غړولې دي. دانش لومړنۍ زده کړې په کابل او منځنۍ زده کړې د ننګرهار ولایت په عبدالوکیل منځنې ښوونځي، چې اوسمهال عبدالوکیل لېسه ده، کې بشپړې کړي، پر ۱۳۷۸ ل کال له شهید محمد عارف عالي لیسې څخه فارغ او پر ۱۳۸۲ ل کال یې د کانکور ازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ته لاره وموندله.

له څلور کلونو پرله پسې زده کړو وروسته په ۱۳۸۶ ل کال له دغه پوهنځي څخه فارغ او له هماغه مهاله یې د خپلو خلکو او هېواد خدمت ته ملا بډ وهلې دي. دانش اوس مهال په یوه حقوقي غیر دولتي خیریه اداره کې د حقوقي مرستیال په توګه دنده پرمخ وړي.

نادر دانش زما د کوچینوالي د خواږه عمر ملګری دی، له ډېر پخوا د ملګرتیا په تار تړلي یو او د ژوند له درانده پیټې سره لالهانده مزل کوو. زه او دانش د نورې ملګرتیا تر څنګ ټولګیوال هم پاتې شوي یو، د ښوونځي منځنۍ او لېسې دورې مو سره یو ځای بشپړې کړې دي. د دانش د سترې ژوند کیسه کیسه راته رایاده ده، ما د دانش د ژوند سرې تودې لیدلې، زه د هغې له خندا سره بلد یم، ډیر ځلې مې د

نور د پښتۍ په دریم مخ کې.....

دانش د اوښکو بدرګه هم په خپلو اوښکو کړېده. «د ډیوې رڼا ته» دا نوم ماته رښتیا هم هغه وخت را یادوي، چې زه او دی به د ډیوې رڼا ته ناست و، دانش د ښوونځي سبقونه د ډیوې رڼا ته زده کړل، د پوهنتون له ارزښته ډک درسونه یې د ډیوې رڼا ته ولوستل، د همدې ډیوې رڼا ته یې خواږه شعرونه ولیکل او دا دی اوس د خپل شعر مینه والو ته په سندریز مجمر کې د ډیوې رڼا مخې ته ږدي. ما دانش پخوا هم لوستی ؤ، اوس مې هم ولوست اوکه ژوند وي نو په راتلونکي کې به یې هم له خوږو شعري پنځونو بې برخې نه شم ، زه د خپلو خبرو لمن د خوږ دانش په یو بیت راټولوم ، دانش ته د دې معنوي بریا مبارکي وایم او تاسو ته بلنه درکوم چې د ډیوې دې رڼا ته څو شېبې تم شئ، خوند ترې واخلئ او ادبي تنده مو پرې ماته کړئ!

داسې هم نه ده چې خوښي راته ژوند نه راکوي
داسې وخت هم نشته چې اوښکه په بڼو نه لرو

**په درنښت**
**محمد فاروق دیدار**
**جلال اباد ننګرهار خپله مېنه**
۱۴/۱۲/۱۳۹۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**